# خيـــالي دنيا

((منثور اشعار))

د

Ketabton.com

# قيام الدين خادم



کمپوز: رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کمپوزر خبري

ستاینې د لوی څښتن لره، چې د ټولو عالمیانو پالونکی دی. د اروابناد قیام الدین خادم دا شهکار اثر (خیالي دنیا ) چې ستا سو په لاسونو کې ده یو له هغو اثارو څخه ده، چې د پښتو ادب پرې ویاړ کوي. دا کتاب په ۱۳۳۹ کال کې د پښتو ټولنې لخوا چاپ شوی، چې یوه قلمي نسخه وه.

په لیکنو کې کومې ورانۍ چې وې، هغه د پښتو ټولنې لخوا تر ډېره بریده پوري سمې شوي، او د کتاب په پنځم مخ په جدول کې یې د پاڼې او کرښې له ګڼې سره سم لیکلي وې. خو لدې سره هم دا چې کتاب په قلم لیکل شوی وو نو زیاتره ځایونو کې متن پاک شوی، او لوستل یې ستونزمن وو.

بله نېمګړتیا یې دا وه چې د الفاظو او کلماتو تر منځ د مناسب واټن نه وو مراعات شوی لکه د کتاب په سریزه کې راغلي: (دادمنثورواشعارو)؛ چې د کلماتو تر منځ هېڅ واټن نه ترسترګو کېږي، او لوستل یې ګران کړي وو.

د دې لپاره اړتیا وه چې د اوسنۍ ټکنالوژۍ نه په ګټې اخېستو سره سم ټایپ شي تر څو د ادب د ګلبڼ ګلان یې په خورا آسانۍ سره لوستی و شي.

په دې مسوده کې نه یوازي کتاب کټ مټ راکاپي شوی بلکې ځېنې متني (املایي) ستونزي یې هم تر ممکنه کچه له منځه وړل شوي دي. زیار ا یستل شوی تر څو د پښتو پنځوګونې یا ګانې په سمه توګه وکارول شي چې په اصلي چاپ کې یې کارونه د پښتو له قواعدو سره سمون نه خوري، همدا رنګه د (ز او ځ) نا سمه کارونه په کتاب کې ځای ځای لیدل کېده چې پدې چاپ کې ورته ځېر کتنه شوې. د (دپاره، نمر او نمونځ) پر ځای له اوسنۍ معیاري پښتو سره سم (لپاره، لمر او لمونځ) راوړل شوی.

هیله مې ده چې ګران لوستونکې ترې پوره ګټه واخلي، نور نو خبري نه اوږدوم د کتاب لوستلو ته مو رابولم.

درناوی

کمپوزر: رحمت شاه فراز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

زما سوال دا دی ........ 7
په محشر کې ........ 11
طلايي زنځير ........ 13
طلسمي ښار ........ 16
ای د خیبر غرونو ! ........ 18
اې خدایه زه یوازې یم ........ 20
د خپل هر فصل اجر ........ 23
اې د قلم خاوندانو ........ 25
نوي لیاره ........ 28
د آسمانونو پورته خواته ........ 29
ښاپېری او شاعر ........ 30
اشرف المخلوقات ........ 32
الهامات ( استقلا ل او لجاجت ) ........ 34
ګودر پېژندل ........ 35
نوی اکتشاف ........ 37
د ژوندانه درې خوا ........ 38
ګلان تولول ........ 39
قافله ........ 40
یو هوښیار ماشوم ........ 43
دا مې ارمان شو ........ 45
اورکی ........ 46
د غوټۍ زندګي ........ 47

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خیالي دنیا

نور هم صبر وکړم ؟ ........ 49
د اوښکو ارزاني ........ 50
ناکامي ........ 52
پټې اوښکې ........ 53
سپلاني مرغۍ ........ 56
بندي توتی........ 58
د ستورو دنیا ........ 59
سېلاب ........ 62
د ژوندانه طلسم........ 64
خوندور خوب ........ 67
په خلکو مین........ 69
د کوترې صوفیانه ژوند ........ 72
د ګلاب ګل........ 74
ای باغوانه........ 78
د دنیا وېش........ 81
مېنه نه کوم........ 83
د ماتما ګاندي افکار........ 84
زما نغمې ........ 86
د سفر تیاری ........ 87
یوه پوښتنه........ 88
وروستۍ ورځې ........ 89
د ژوندون مبارزه........ 90
زما دعا ........ 91

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خيالي دنيا


زه شرمېږم.......... 92

يوه آرزو .......... 93

بد بخت خوب.......... 94

د ودې چم .......... 95

خوشحالي .......... 96

د مرګ سره محبت .......... 98

د خپل لاس ځولانه.......... 99

د آزادۍ جنت .......... 100

عبادت.......... 101

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله الرحمن الرحيم

دا مجموعه چې ستاسو په لاس کې ده، خيالي دنيا نومېږي. دا مو ځکه خيالي دنيا وبلله چې د شاعرانه تفکر دنيا يقيناً خيالي دنيا ده له همدې کبله خلک د شاعر افکارو ته په يو بل شان نظر ګوري.

په دې مجموعه کې چې زيات يې منثور اشعار دي، زما د خيال د عالم واردات راغونډ شوي دي، او څه پکې داسې اثار هم شته چې د نورو د افکارو ترجمه ده.

دا د منثورو اشعارو او آثارو ټوټې چې څنګه ماليکلې وې، هغه شان مې ترتيب کړې، يعني کوم وخت مې چې وغوښتل په کنايي صورت يې ټولې کړم، نو په هماغه اصلي صورت مې پرېښودې، لاس وهل مې پکې لازم و نه ګڼل. مګر کومې پارچې چې اخېستل شوي او ترجمه شوې دي هغو ته مې اشاره کړېده.

که خيالي دنيا د دذوقمدانو دروند نظر ځانته جلب کړي نو دا به زموږ کاميابي وي او د پښتو لپاره به زموږ زيار او زحمت ځای نيولی وي.

کابل – خادم مېنه، ۳۰ د ثور ۱۳۳۸ قيام الدين خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما سوال دا دی

هلته د هو غه لوړ غره په لمن کې چې سپين سر يې د اسمان نيلي سقف ته ورته کړی، او د واورو کرېږ ورېږ لياري يې د ګټو او لوړو ونو په منځکې تر نيمايي رانښکته شوي، او سپين زنځيري لښتي يې تېشکيل کړي دي.

دغه اوبه چې د هغې پلنې او هوارې تپې په سر راتېري شوي دي چې دوه شرقي او غر بي غرونو تر منځه تر ډېره امتداده احاطه شويده ، او د هغې په هره خوا يې نرمي نرمي شرشري جوړي کړي دي.

دلته د دې شرشرو په هره ډډه چې د زرګونو قسمو مېوه دارې ونې ولاړي دي او د دغو جنګيو په منځ منځ کې ځای پر ځای داسې سپيني او سپيني ماڼۍ ښکاري، چې خلک يې د صبا د مرغانو په نغمو له خوبه پاڅېږي، او د ماښام د هوا په سړو او سېلو کې په ارام ويده کېږي.

دلته چې د ژمي ساړه او د اوړي ګرمي خپل شدت نښي ښکاره کولې تېرېږي. د امراضو جراثيم د دې ځای د لمر د وړانګو او د هوا د صفايي تاب نه راوړي او هلاکېږي، دلته د زور لښتنه د چا د ازادۍ جګ اورمېږ په تذلل نشي راټيټولی. دلته چې نه سرمايه شته او نه مزدور، او نه مفت خواره خلک په خود ساخته رسوخ د چا له جيبه وړيا پيسې په خپلو غوړو او ګرمو خبرو اېستلی شي او د بالمثل احترام نه پرته نور هېڅ شی د انسان په آزادۍ کې دخل نه کوي، دلته يوازي فطرت دی او د هغه غېږ نه تصنع شته او نه تملق.

زه دغه ځای نه غواړم !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

هلته چې لوړې لوړې پخې ماڼۍ د سمندر په غاړ ولاړې دي، د سمندر لويې لويې چپې راځي او د هغو په پښو سر ږدي او بېرته ځي، خلک د بې پايابه درياب په شا د کشتيو په ذريعه د دنيا هرې خواته درومي !

هر مازيګر زلميان او پېغلې په مخصوص ډول او سينګار د عيش او نشاط په کيفونو مسرور د دغه بحر په غاړه د تبسمونو او خنداګانو په امواجو کې مستغرق کېږي، او د دنيا دقايق په ناز او کرشمو شوق او مينه پرې کوي.

د دغه ځای خلک چې د بد امنۍ، ظلم او حق تلفۍ، بېځايه تحقير او کش مکش څخه کاملاً مطمئن دي، او د ګډ ګذران په يو وسيع او دامنه داره سلسله کې ژوند کوي.

هلته چې انسان د انسان غوښې نه خوري او هر سړی د خپل لاس په ګټلو فخر کوي، کوم ځای کې چې د خلکو قانون د خلکو د رفاه ذمه وار او د اشخاصو له صلاحيته ډېر پورته او محترم دی.

هلته چې افکار آزاد دي، او هر سړی د خپل لياقت او استعداد په مطابق ځان ته مشغله او کار پيدا کولی شي، هلته چې لياقت د اجتماعي خدمت په صلاحيت اړه لري، نه د چا او چا په خوښه او ذوق.

هلته چې ورځ په لمر، او شپه په برقونو پېژندل کېږي او انسان د انسان په مرسته او دوستۍ کې ژوند کوي، هلته چې اقتدار، د خلکو د آزادۍ او پېشرفت د پاره خدمت کوي او پخپلو قوي پنجو د علم، حق او حريت ستونی نه خفه کوي.

زه دغلته هم ځای نه غواړم !

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

هلته چې انسان په ۱۲۰ پوړه جګو اسمان خراشو عمارتونو کې او سېږي او د سپوږمۍ او ستورو سره خبري کوي د برق په زينو خېژي او کوزېږي، په ګلانو او باغونو کې اوسي، په ځمکه، هوا او بحر کې د بخار په شا ګرزي او د برق په وزرونو الوزي.

هلته چې جنسيت (ښځي توب او نر توب) د انسان د استعداد د بروز او تکامل او د ارتقايي جدو جهد په مخکې حائل نشي کېدی، هلت چې سواد او جهل دا سې عيب ګڼل کېږي لکه کفر ! هلته چې انسان خپل مقبوليت او رسوخ د ډېر زړونو په استرضا او خوشالۍ حاصلوي، نه په مکر، دغا او خوشامندو.

هلته چې آزادي د علم، پوهې، انساني احترام او اخلاقو معنا پيدا کړېده. هلته چې مشران خپل کشران د وېرې، ډار او خوف په زور نه اداره کوي، بلکې په محبت او مېنه او خدمت سره يې قانع کوي.

هلته چې د قوت او شتو خاوندان په بې وزلو او محتاجانو رحم او مهرباني کوي هلته چې حسن او جمال، ظرافت او نفاست خپل آخرين مراحل طی کړي ميدان ته راوتلی دی، هلته چې انسان د انسان د بهترۍ فکر کوي نه د ځان د برترۍ، هلته چې انسان په مرض، خوف، جهل او غلامۍ غلبه کړېده او انسان په خپل اجتماعي قوت او آزاد روح د فطرت خزانې لوټ کړي، او په خپله خوښه او رضا ډېر عالي ژوند کوي.

ما ته دا ځای هم مه راکوه اې زما خاونده !

هغه چې د شاعر د خيال نه هم وسيعه ده او هلته چې عمارتونه د لعلونو، مرغلرو، زمردو او زبرجدو دي او د بې انتها لوړو ونو هره پاڼه هلته سوونه سازونه کوي او خوشرنګه او خوش الحان مرغان پکې الوزي، او پرې پيکره لاله رويان د دغه ځای د اوسېدونکو د خدمت لپاره حاضر ولاړ وي او هلته چې څه نفس غواړي او په څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

سترګي خوږېږي ټول موجود وي ، هلته چې وړی موړ ، سرمايه دار او مزدور ، حاکم او محکوم ، ملت او حکومت ، جنګ او صلح ، رقابت او حسد ، ډله او حزب ، هېڅ وجود نلري. هلته چې نه عمل شته او نه نتيجه. نه څوک لوېږي او نه څوک وږېږي. هلته چې نه دردمند شته او نه د سوز ناله ، هلته چې نه قوم شته او نه وطن ، هلته چې نه څوک احتياج لري او نه حاجت روا پکارېږي. هلته چې خدمت بې معنی لفظ دی. هلته چې زړه شته خو درد به نه کوي. هو داسې زړه دی چې آرزو نلري ، خوشالي شته خو بې غمه ، خندا شته خو بې ژړا ، دا دنيا خو ډېر رنګينه عجيبه او آرامه ده.

مګر زما سوال دا دی چې ماته د خپل مريض ، بربنډ ، وږي او ناپوه قوم د مات زړه په کنډواله کې ځای راکړه ، چې دلته د خدمت او سوزو ګداز په واسطه ستا د جمال د بېمثاله کرشمو ننداره وکړم.

زه د غه جنت غواړم اې زما باداره. ! !

کړه ، خوګيانۍ ۱۵ د جوزا ۱۳۲۸ خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په محشر کې

راحاضر کړئ، دغه سړی چې په دنيا کې يې ډېر ژړلي او اوښکي يې تويي کړي دي ، ما ددغو اوښکو له برکته دی وباښه. ځه، زما جنت، ابدي نعمتونه، حورو او قصورو ته !

پښتو شاعر: اې زما خاونده ! اې د کائناتو خالقه ! ما په ډېر عجز او نياز ستا رحم، او مهربانۍ ستا داد او نعمتونه غوښتي دي، مګر نه يوازې د ځان لپاره. اې زما مهربانه باداره ! زما ناپوه، خوار او مظلوم قام ستا د رحم وړ دی،

لوی څښتن: ځه، قام دي هم درسره بوزه !

پښتون شاعر: اې زما ربه ! زما قام يوازي همدا نه دی، زما قام د خيبر کښته پورته، د سليمان غره نه لرو بر پروت دی. ظالمانو دوه نيمه کړی دی. که اذن وي چې غونډ او متحد يې ووينم – دغه دی زما سوال اې آقا !

لوی څښتن ( په مسېدو ) ځه، همدغسي زما خوښه ده. ای زما د غريب مخلوق محب او خدمتګاره !

پښتون شاعر : (د قام د وحدت ترانه وايي ) روان شو !

د شاعر مېرمن: پاڅه، پاڅه اې سړيه په خوب کې هم ستا سندري دي، پاڅه صبا دی. لمونځ قضا کېږي ، پاڅه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خيال په عالم کې

مايو عاليشان ښکلی او باشکوه عمارت وليد چې د ننه پکې سره او مزين مېزونه او چوکۍ ښکاري، ګورم چې په دغه چوکيو ځو تنه ځوانان ناست دي، او زما خواته په داسې وضع ګوري لکه چې غواړي چې هلته ورشم.

ما سره زما ځو تنه ملګري همدي. دوی وويل: مونږ ته اشاره کوي. راځئ چې ورشو، ما ويل: څه يې کوو دا ځای زمونږ د پاره نه دی.

ملګرو وويل: د جهل نه علم ښه دی. مونږ ور وګرځېدو چې ورننږدې شوو ومو ليدل چې د دوی په مخکې نفيس نفيس قابونه ايښي دي. دوی جېبونو ته لاسونه کړل، هر يوه له جېبه کاشوغه راوېسته او لګيا شول په خوراک باندې....

يو له دوی څخه چې د دغه نورو مخکې ناست و، مونږ ته په خندا شو، ويل يې: راځئ کنه.

مونږ هم ورننږدې شو، ګورو چې دوی په څمڅيو کې يو څه را اخلي او خوري يې په دې کې وران وړم راغی. مونږ يو تر بله وکاته او په نېولي ساه راووتو. زما حيرت هغه وخت له انتها څخه تېر شو چې و مې ليدل په دغو کسانو کې زمونږ ملګري هم شته.

جلال آباد ۵ حوت ۱۳۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طلايي زنځير

په دې فولادي پنجره کې زه ولې اچول شوی یم، آخر زه خو هم انسان یم، او آزاد انسان !
بندي سوړ او سېلی وا يست او دا پورته جمله يې وويله.

بنديوان: دانو ته، ولې پنجره ګڼې، دا خو ستا کور دی.

بندي: نه، دا کور نه دی، دا ګور دی.

بنديوان: ته بايد په خپل روزانه کاروبار بوخت او سې، او نور چرتونه بايد ونه وهې.
بندي: دا نو زه څنګه کولی شم، چې په خوړ او درد اخته او سم او خوږ نشم.

بنديوان: خوږ او درد څه معنی ؟ زه نشم پوهېدی چې ستا مراد څه دی؛ او آزادي ته څه شي ته وايې؟

د خوب په وخت خوب، او د کار په وخت کار کولو کې آزاد يې نور نو څه غواړې؟

بندي: ته خو وينې چې په موږ څه حال دی. وګوره کنه !

بنديوان: که ته وږی يې، بربنډ يې، دا خو خدايي کارونه دي. توبه وباسه او خدای ته راجع شه.

بندي: دلته يوازي د ډوډۍ سوال نه دی. ډوډۍ د اور بشو وي که د وړنو، مګر خبره دا ده چې زه خو هم انسان يم او آزاد پيدا شوی يم. نو دا چاپېره د فولادو سيخونه د څه پاره دي ؟

زه ولې په خپله خوښه خپل خيرو شر نشم ټاکلی. آخر زما ګناه څه ده، او قصور مې څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

بنديوان: ما خو تا ته ويلي وو چې خپل کار کوه، چتې خبري څه فايده کوي ؟ چې نه کار هلته څه کار !

بندي: زه اوس پوه شوی چې زه بندي يم. زما ړومبی کار دا دی چې خپل ځان او خپل ورونه له بنده خلاص کړم او د آزادو مرغانو غوندې آزاد والوزم.

بنديوان: ګوره ستا اخلاق خراب شوي دي. که وانه ووښتې، سخته سزا به درکړی شي !

بندي: د حيات خوند آزادي ده. زه له آزادۍ محروم يم. د دېنه به لا سخته سزا بله څه وي ؟

بنديوان: دې بندي ته سزا لازمه ده، نبسئ يې.

بندي: بنديانو ورونو. هلئ، فولادي سيخان مات کړئ... ووځئ، تاسې آزاد انسانان يئ، فساد مه کوئ.

او اصلاح ستاسو کار دی.

پنجره ماته شوه او بنديان راووته.

يو بندي: اوس به څه کوو ؟

بل بندي: اوس به ځو کنه.

دريم بندي: چېرته به ځو ؟

څلورم بندي: د سعادت سرحد ته.

پنځم بندي: نو ځئ چې ځه، بسم الله.

ټول بنديان: آه، زمونږ په پښو کې خو زنځيرونه دي.

د بنديانو مشر: آه، دا زنځيرونه خو زما په پښو کې هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

آه دا خو موږ په خپلو لاسو جوړ کړي، طلايي زنځير دی.
د بنديانو مشر وويل ، او بيا ټول غلي شول.

سنبله، کابل ۱۳۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طلسمي ښار

چېرته د يو لوړ غره په څوکه جګ او محکم کوټ او حصار دی. په دې حصار کې دننه يو ښار دی چې له عجايباتو او غرائبو ډک دی. دلته د دنيا قيمت بها توکي، نعمتونه، لعلونه، مرغلري، جواهر، دانې اودولتونه موجود دي.
د حصار دننه او بېرن دروازې ټولې فولادي دي. او کلکې جندرې ورته پرتې دي. په دې سر مهره ښار د هېچا لاس نه بر کېږي.

نه پوهېږم کوم يو د خدای دوست بنده په دې خبره څنګه پوه شوی وو چې دا حصارونه او دا جندرې ټولې طلسمي دي. دا طلسمونه په دې ماتېدای شي چې د دغه مملکت خلک ټول په خپلو پښو د کلا خواته راشي، ودرېږي او په يو اواز ووايي: ببرته شه د خدای په فضل.

د وطن خلک ټول وږي، تږي، بربنډ، يو دبل په اوږو سپاره او نارام وو، پلي د سپرو او سپاره د پلو له لاسه! چې دا خبره يې واورېده، هر يو به پټ، پټ، غلی غلی پلی او سپور راته او غږ به يې کاوه. ببرته شه د خدای په فضل.

مګر د خدای دا فضل يوازې د يو کس يا څو کسو په نصيب نه وو؛ او خلکو دا زړه نه کاوه چې د ذاتي اغراضو څخه تېر شوي وای. په ګډه، پلي راغلي وای او په ګډه يې دا کاميابي حاصله کړي وای. په دې غږ چې: ببرته شه د خدای په فضل!

ورځې او شپې تېرېدې، دوی ټول په خوارۍ، ذلت او حقارت مبتلا وو. نه په مملکت کې روغه کوټه وه، نه روغ صورت، نه مړه ګېډه، نه روغه تنۍ او روغ زړه. مملکت د لعلونو او جواهرو څخه ډک وو. فقط همدومره وه چې دوی ټولو نه غوښتل چې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



آسوده شي. په شرافت ژوند وکړي. په خپلو پښو ودرېږي او په يو آواز ووايي چې ببرته شه د خدای په فضل.

دا مملکت اوس هم شته. اوس هم پکې هماغه حال دی. د خدای هغه بنده اوس هم هماغه نارې وهي. مګر خلک نه غواړي چې يو د بل له اوږو کوز شي، آسوده شي، او د خدای د فضل مستحق شي. ځکه نو تش په يوه خوله نه وايي: ببرته شه د خدای فضل!

کړه – خوګيانی ۲۲ د جوزا، ۱۳۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ای د خیبر غرونو !

بس کړئ، دا د بېلتانه وظيفه پرېږدئ.

پرېږدئ چې د يوې مور او يو پلار زامن سره په ديدار ماړه شي. په يو کور کې په يو انګړ کې دننه، تاسو د کوه قاف مثال څه له جوړ کړی دی ؟
را ټيټ شئ او په خپلو سينه ليار ورکړئ، هغه ميندو ته چې زامن يې تاسو يو تر بله پناه کړي دي. او هغه خويندو ته چې ورونه يې د هغو په بې آبي په خپل سرونو اورونه بلوي.
بس کړئ، د مينانو او عاشقانو په منځ کې رقيبانه سياست تر کومه ؟

مه کوئ، سر ښکته کړئ. هغه قوم ته چې په دنيا کې ستاسو شهرت د هغه د ننګ او آزادۍ مرهون دی. لېري شئ ، پرېږدئ دا ليار چې شل ميليونه زړونه ور نه هغه خوا او دېخوا د پارې د درياب غوندې د ارمان او آرزو په اثر په جنبش کې دی.

اې د خيبر غرونو.

ای افغان د شهات او عظمت ډېرينو يادګارونو. ای د لويې پښتونخوا د مخ پوزې ! نور دوه سترګو د اشنايۍ او شناخت مانع مه کېږئ. وشرمېږئ، او د سپين غره او کونړ په شان په خپل سر اغيارو او بې ننګانو ځای ورنکړئ.

هو ، ورشرمېږئ او وو برېږئ، چې هغه طوفان راتلونکی دی چې په غرونو ، رغونو ، لوړو ژورو ، يوشان تېرېږي او نه پرېږدي هېڅ يوه لوړه چې ځو يې ټيټه نه کاندي.

ای د پښتونخوا د زړه د لعلونو او جواهرو خزانې، بس کړئ، د پښتونخوا د تحقير او تذليل سبب نه شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! بس. ! !

کړه، خوګیانی ۱۵ د جوزا – ۱۳۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اې خدايه زه يوازې يم

زه پرېشانه او بې مرستې يم.

ورېې ورېې مرغۍ چې جوړه جوړه او سېلونه سېلونه ګرځي ما ته ژړا راځي.

کوم وخت چې په صحرا کې ځرېدونکي غوايي يو له بله ښکرونه ورته کړي، او د هر يوه به ډډه د هغه کومکيان راشي، نو زما په زړه کې د وينې لارې وشي.

پسرلي او منۍ چې زانې په پورته شنه فضا کې کتارونه کتارونه د يو مشر په رهنمايۍ د سفر منازل قطع کوي ، نو هغه وخت له خپګانه زما ستونی بند شي.
هغه وخت چې ووينم بلبلې به اتفاق د ټپوسانو د ضرر د دفاع لپاره په هغو غوټې وهي، او چرګه د چرګوړو د ساتنې په نيت د سپو او پيشوګانو د نوکانو خنجرونو ته ځان ورکوي، نو د نااميندګۍ توره تياره ما ته جهان تورتم کاندي.

آه زه يوازې يم. دښمنان رانه چاپېر دي. څوک مې د مال او څوک د سر په فکر کې دی. زه څه پوهېدم چې حق همېشه په قوه ساتل کېږي. زه څه پوهېدم چې ته زما مټ بازوی يې، زما د کاکا زويه. ما ويل چې ته زما رقيب يې. ما ويل چې ته ما ته ضرر يې ! ما ويل چې زما تربور يې ! سر را پورته کړه اې زما عزيزه. ملا دې وتړه ای زما د شرف اوناموس ساتونکيه غېرتي وروره. ولې غږ نه کوې غلی پروت يې ! پاڅه پاڅه چې نور بې پته کېږي. ای زما ګرانه روکيه. آه خدای ما خپل ورور پخپله وژلی دی. آه زه دې ومرم زما ننګياليه وروره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ما كره مه راځه

ما دخوږ ژوند ورځي او شپې د ده په ياد تېرولې. د حيات ستغ او سپور مې د ده په تصور زغمل. ټولې ناوړه او ناخوالې مې په سر اخېستې ! ما ويل داسې يوه ورځ به راشي زه به دي وګورم، لېدلي، اورېدلي، لوستل او درک کړي به ټول ورته ووايم. ما ويل ده به ماته غوږ نېولی وي، او زه ورته د زړه ټولې غوټې وسپړم. رازو نياز به ورسره وکړم. هو، دغه ورځ راغله – خو ده ما ته وويل:

ما كره مه راځه.

ما سره آرزوګانې وې، ما سره ارمانونه وو، ما سره د كلونو كلونو سودا وه. زما په ژبه ترانې – او زما په رباب کې نغمې وې، ما ويل دا به د ده به حضور کې عرض کړم. زما په ځولۍ کې ګلان وو. زما په لاسونو کې هار وو. دا ما د ده په ياد جوړ کړي وو، خو چې زه ورغلم، ده ويل:

ما كره مه راځه.

زما خبرې، زما آرزوګانې، زما ارمانونه ټول پاته شوه ! اسرار، ونه ويل شول. رازونه پټ پاته شول. زما د آمالو ښيښه په تېږه ولګېده ! زما زړه د پاچ ټيكرى وو چې د ګل په بوټي غوړېدلى وو، كوم وخت مې چې راغوڼډاوه، په اغزو کې تار تار شو او په لاس رانغى ! زما په سترګو کې اوښکې وچې شوې، كوم وخت چې ده وويل:

ما كره مه راځه.

ده ماته د پوښتنې فرصت رانكړ ! ده زه ملامته نكړم ! يو تر بله پوه نشوو ! نه پوهېږم چا لمسولى وو !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

چا بد پوه کړی وو ، يا زه په ادابو پوه نشوم ! لاسونه مې يې ښکل نکړل. ما ويل زړه په زړه آئينه دی.

ما ويل ماسره اخلاص دی، تصنع څه په کار. خو زما ستونی بند شو ، هغه وخت چې ده وويل:

ما کره مه راځه !

**جلال آباد ۲۵ د حوت ۲۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپل هر فصل اجر

د خپل هر فصل اجر ماته په دې دنیا کې ورسېدی، داسې به نه وي چې ما دې نېکي کړې وي او زما زړه دې دننه د خوشالۍ نه نه وي ډک شوی؛ په داسې وخت کې زما لطیف جذبات داسې په جوش کې راځي چې زه په خپل زړه کې د ټولې دنیا د تنګ نظرۍ نه پورته پورته ښکارم؛ جرأت زما په هر رګ کې سرایت کوي نو زه پوهېږم چې زما خالق تش د یو وړوکي فرض د ادا کولو په عوض د خپلې خوشالۍ سره ماته د قوت او اطمینان بې بها هدیه رالېږلې ده؛ او دې لپاره کلونه او ساعتونه څه چې یو سترګې رپ هم نه شو لازم؛

زه نه پوهېږم چې دا څه رنګ قاصد دی چې دا د خوشالۍ زېری ماته په سترګې رپ کې رارسوي. ماته داسې ځلېږي چې ګویا د زړه په تیارو کې د نور د شغلو وړانګې راپرېوځي، چې د هغې نه دا خوړه چینه ګړندۍ رابهېدلې او یو بې سر و بره دریاب ترې جوړ شوی؛ د هستۍ په وسعت کې خیر کېږي پردې بله خوا- ما کله د نېکۍ نه اجتناب ندی کړی، چې زما زړه دې د باغیانه حرکت په سبب ټوټې ټوټې نه وي شوی، ما دا ماتیده په خپلو ځان غلوونکو تسلیو او په قصدي خنداګانو که هر څه پټ کړي او غوښتي مې دي چې زما زړه هم پرې خبر نه شي لیکن دا مصنوعي خوشالۍ د پوکنې غوندې چوې او زه ترور او لېونی ښکارم.

هو ! کله داسې هم شوي دي چې زما زړه د خپل عادتي کړو تلو له کبله صحیح احساس نه وي کړی؛ لېکن د دې بې پروایي په جزا کې یو بې تغیره قانون ما د یو سخت ملزم غوندې داسې نېسي چې سا اخېستل هم مشکلېږي، نو زما زړه چغې او سورې وهي اودا ادعا کوي چې اې خدایه، بیا به داسې نه کوم ته د پښېمانه زړونو رښتیانۍ دعا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رد کوې. نو حق تعالی یې اوري او قبلوي یې لیکن آه. زه د هغه د دې عفوې څخه په غلط فهمۍ کې لوېدلی دا هېروم چې یو داسې ذات شته چې زما ټول ښه او بد په هره ګړۍ کېویني او د ژوند د باغ رنګین ګلان او مړاوې غوټۍ په خپله نازکه تله کې تلي او یوه ذره هم نه عبثوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اې د قلم خاوندانو

اې د حقیقي ضمیر لرونکو ، ای د وجدان د آواز ترسیموونکو ، ای د هرې ژبې په ژبه بوهېدونکو ، ای د الهاماتو اخېستونکو ، ای د تاریخ اړوونکو ، او ای د آدم د قلب په محفوظي تختې د سر مشق آچوونکو !

مه وایئ چې دنیا د تنازع للبقا میدان دی.

مه وایئ چې مونږ په دنیا کې د رقابت او همچشمۍ لپاره پیدا یو.

مه وایئ چې هلئ منډې کړې چې کاروان لاړ.

مه وایئ چې مونږ د قوم او وطن د پاره خدمت کو.

ځکه مونږ انسانان پیدا شوي یو زموږ خلقت او آفرینش عبث ندی، زموږ حیات غایه لري او هغه د وظیفې انجام دی.

زمونږ وظیفه د تنازع للبقا ، رقابت، کرل او رېبل، منډې وهل او د ده او د هغه د خدمت نه ډېر پورته مفهوم لري.

د وظیفې مقام د زندګي او مرګ د مراتبو څخه لوړ د عشق په لامکان کې دی.

د تروږمۍ د نېمې شپې په سکوت کې د غتو غتو ستورو نه ور هغه پلو د هغه وړو وړو سپرغیو په خفیفو اشارو کې ماته دا راز څرګند بړي هلته وګورئ. ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اې خدایه مینه ګناه ده؟

اې خدایه، مینه ګناه ده؟ او چې ګناه وي نو ژوند څه شی دی ؟ ژوند د مرګ نوم دی؟ له دې ځایه تر لامکانه تا ته د درتګ د لارې هر پل بې له محبته طی کېدی شي؟ اې حق او اعلی حقیقته، ته د میني ظاهروونکی او د مینې مظهر نه يې ؟

ښه نو مینه ګناه ده؟

دا د منې په ونه کې سرې منې اوېزانې، دا د ځنګلونو د ونو ګڼه اجتماع، دا د لویو غرو د بې انتها تېږو تراکم، دا د پورته غیر متناهي ستورو خموشانه انجمن، دا د دې نوراني عالمونو پر امنه جنبش، دا د ټولو سیندونو سر اېښودل د سمندر په غېږ کې، دا د ابحارو لېوالتیا او بیتابي، دا د مرغیو لوی لوی سیلونه، دا ټول د مینې او محبت مظاهر نه دي ؟ د کائناتو هره ذره د بلي سره د وصلت لېواله نه ده ؟

نو اې خاونده مینه ګناه ده؟

که زما زړه د سترګو په لاره کومې خواته ځي که د ښکلیو ناز او کرشمه د مقناطیس غوندې ما راکاږي، که د عالم په نظام کې زه یو خلی یم چې د مینې باد مې هرې خواته وړي. که زه عشق ته پیدا یم، او عشق ماته؛ او بې د مینې له شرابو ، نور هر څه زهر وي

نو مینه ګناه ده ؟

اې خیر محضه، که مینه شر وی، نو له تا څنګه صادرېږي؟ او هغه چې مینه شر بولي، څرنګه ستا په دنیا کې اوسي ؟ بېشکه چې دوی دلته د اوسېدو حق نلري. نو اې څښتنه مینه څنګه ګناه ده،
هو ، هغه چې مینه نه وي غضب وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال آباد – ۱۳۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوي لياره

د کاروان ټول واړه غټ، نر او ښځې، خر او ټټو اسونه او اوښان قطارونه قطارونه په خپل ګرد او دوړو کې د غره د رڼا نه پټ، له هر څه بې فکره فقط د لارې لنډولو د خيال په شرابو مخمور روان وو ، تلل- مګر يو سړی چې ترور او مبدل معلوميده لکه ورکه چې لټوي ، کله به يې د کاروانيانو سره هم آهنګي کوله اوه حدي به يې ويله او کله به په دې څنګ او هغه څنګ له بهيره جدا کېدو. په اخره کې يې کړو ای خلکو ؛ اې خلکو ؛ راوګرځئ چې دا لياره د هغې نه ډېره لنډه، ماموړه او هواره ده.

کاروان روان وو او ده ورته نارې وهلې چې د خلکو پام شو ، ويل يې : اوه لېونی دی. ته تېرې اخله، او زه تېرې را اخله او وله يې ؛ کاروان وېشتلو او ده ورته په خندا خندا نارې وهلې ...

هغوی هم لاړل او دی هم لاړ خو ډېرې زمانې پس خلکو ومنله چې د هغه خبره صحيح وه ، ده رښتيا ويل مګر خلکو دروغ ګڼل ، وګورئ اوس څنګه په خندا خندا روان دی ، چې څو ستړی شي.

پېړۍ تېرې تېرېږي او د دهر د ارهټ هره ورځ نوي منګوټي راووزي، کاروانونه روان دي او ځي، تر دې لا نوري نوې لياري همدغه شان پيدا کېږي قافلې او کاروانونه روان دي ...

هېڅ وخت داسې ونه ويل چې ورسېدو خو همدې د جدت لذت د تلونکو ستوماني اېستله ! هېڅا نشو کولی چې دا رفتار معطل کړي.

جلال آباد : ۱۳۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د آسمانونو پورته خواته

آها ، ها ، ها ،ها. ... دومره لوی شین درياب ! چې انتها يې د لايتناهي په امکان کې ورکه ده... ! !

ځومره لا تعدد لا تحصی واړه او غټ منور موجودات یو تر بله په جنبش کې دي.
هاغه، هوغه، او هوغه لمرونه او سپوږمي دي ، نشې ويلی چې دا له کله او تر کله او څله ... !
د دغو بېشماره عالمونو په منځ کې هوغلته يوه ګردې ده چې ځمکه بللی شي هلته او به غرونه رنګا رنګ ژوندي مخلوقات شنه او لويېدونکي نباتات او د انسان په نامه يو خورا ښکلی حيوان وجود لري....
دا موجود دوه پښې لري، دوه لاسونه، او دوه وزرونه؛ دا دوه وزرونه (عشق) بولي او عقل.

په دغه دوه وزرونو هرې خواته آلوزي مګر يوه لويه بلا چې ((آز )) دی د ده تر غاړي چاپېره او د پرواز يې مانعه ده. د ده عمر داسې دی لکه په زر کالو کې يو سترګی رپ. هغه هم ده ((آز )) له لاسه په غم لړلی. په دې غير محدود عالم کې دغه نقطه پر شوره ده. !

هو دغلته ده او دغه ده زندګي. ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاپېرۍ او شاعر

ښاپېرۍ: ( د شرابو ګلاس په لاس کې شاعر ته ولاړه ده، شاعر يوې ښکلې منظرې ته ګوري او څه لیکي ) نه شرابو ته میل لري او نه ماته ګورې عجیبه ده معلومېږي چې د آشنايي په رسم و رواج نه پوهېږي.

ستا د نفس ګدازيي او غزل سرايي څخه ټول د جستجو او آرزو سوز او ساز ځرګندېږي، آه دا څومره جاذبه زمزمه ده.

ستا د لخراشه سرود د ارم د ښاپیرو له سېله را وګرزولم. آه دا څه قسمه د لربا جهان دی چې ستا په نغمو کې لیده شي. چې ارم یې په مخکې لکه طلسم داسې برېښي.
ته خو ماته لېږ وګوره، زه ښاپېرۍ یم.

شاعر: (قدم وهي) ستا نښ دار کلام د تلونکو او رهروانو زړونه غولوي او راکاږي يې، مګر د لارې د اغزو خلش ورنه زيات خوندور دی. څه وکړم زما فطرت مقام نه قبلوي. زما زړه داسې دی لکه د صبا باد چې په لاله زار ګډ وي.

کوم وخت چې يوه معشوقه وګورم نو هغه وخت مې د هغه نه زیاتې ښکلې او ښايسته معشوقې ته زړه هوس کوي. د سپرغي نه ستوری، او د ستوري نه لمر لټوم، زه سکون نه غواړم چې دا مرګ دی.

هر کله چې د یوه پسرلي د شرابو څخه یوه پیاله وڅښم نو بیا د بل پسرلي په آرزو غزل وایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیالي دنیا

زه د هغه څه آخر لټو چې آخر نه لري، ولې بیا هم زما زړه بې واره او خاطر امید واره دی.
د عاشقانو زړه په داسې همېشه جنت کې چې هلته د درد آواز او غم او غمگسار نه وي مري.

(د خدای پامان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اشرف المخلوقات

وګورئ دوه مرغۍ تمام ژمی بې له ازدواجي احتياجه په يوه ځاله کې په څه اتفاق او مينه ژوند کوي ؟

کوترې سيلونه سيلونه آلوزي او په ګډه نڅېدې نڅېدې، په سختو کمرونو لوړو برجونو او د بنيادمانو په کورونو کې جوړې جوړې اوسېږي، د دوی مينو کې مينل، وزرونه رپول او خواږه آوازونه اېستل د ګډون او محبت قابل رشک مظاهر ښيئ.
زانې لوی لوی قطارونه جوړوي، د آسمان په شنه فضا کې الوزي ، د خپل مشر په رهنمايي د سفر لياره تعقيبوي، اوږی يخو ، او ژمی تودو هېوادونو ته ځي.

د مشر په انتخاب، د لياري په خوښولو ، د رزق پيدا کولو باندې د دوی په منځ کې هېڅ تزاع او اختلاف نه پيدا کېږي، کاڼې خوري خو يود بل غوښې نه خوري.

لېوان په غرونو او پړانګان په ځنګلونو کې اوسي، د مخمضې په حال کې د بل په غوښو خوراک ته اړ کېږي، مګر د راتلونکې ورځ او اينده کال په غم يا د خويښ، اقرباء، قوم، وطن د خود ساخته تعبيراتو په لحاظ د بل د کورورانولو وينو تويولو او استيصال ته ملا نه تړي او ځانونه په مرګ نه ورکوي.

متاسفانه انسان د عقل په غرور په نرمۍ يا ګرمۍ د بل په وينو څښلو لانه قانع کېږي څو د قومونو قومونو ، ډلو ډلو په زړونو دماغونو ، اعصابو او فطري خواهشونو تسلط ونه کړي او ړانده کاڼه او شل يې ونه ګرځوي. دی تل خپل جنسي، غذايي او غريزه يي ميلانات پوره کول د نورو په ضرر او تهلکه کې لټوي، او بيا ورته د تهذيب، قانون او فلسفې جامه ورآغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیالي دنیا

آه – کاشکې چې انسان هر څه وای خو اشرف المخلوقات نه وای. ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الهامات ( استقلال او لجاجت )

مهم کارونه د مزاج استقلال ته اړ دي، مګر د استقلال او لجاجت په منځکي فرق دی: کوم وخت چې ستا د ټینګار نه رد عمل پیدا شي، نو پوه شه چې ته په لجاجت اخته یې.

دام

زه درته دا نه وایم چې نېکي مه کوه بلکې دا درته وایم چې د هغو کسانو په دام کې ونه نښلې چې تل د نیکۍ په خوا ترغیب کوي.

اتفاق: ۱

ټولي قومي او ملي کامیابۍ د اتفاق مرهوني دي؛ مګر اتفاق د پسرلي باران نه دی چې پخپله وربږي، بلکې د هر ملت د اتفاق تهداوونه د هغه ملت خوا خوږي حکیمان او فلاسفه ږدي.

اتفاق: ۲

کوم ملت چې اتفاق نه لري ګویا هغو سړي نه لري.

حقیقت

هر څوک چې شکایت لري چې دنیا په تیاره کې ده، او حقیقت ورک دی نو دوی دي د حقیقت په مفهوم نور هم غور وکړي.

قلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

کېدی شي چې نور کارونه په زور وچلېږي، مګر قلم نازکه شی دی، په ده چې زور راشي ماتېږي.

قلم او توره

توره په خپل ځای کې دکتاتوره ده او قلم په خپل ځای کې، وړاندې والی هغه وخت کېږي چې د دواړه احترامانه اتفاق وکړي.

خوشامندي

خوشامندي هغه متاع ده چې په دنیا کې تر هر څه زیات خریداران لري.

ګودر پېژندل

په سعیه او کوښښ سړی وړاندې ځي. ولې بې ګودره ګډېدل سړی په سیند لاهو کوي.

نېکي او سړیتوب

نېکي کوه خو سړیتوب له لاسه ورنکړې.

شعر

کلام د خبر د مجموعې نوم دی، هر کله چې په دې مجموعه کې خوند او کیف پیدا شي نو شعر ورته وايي.

خوشحال او رحمان

خوشحال په ټولو معانیو سره شاعر دی؛ ولي رحمان د شاعر نه پورته مقام لري.

لویي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

هېڅوک په زور باندې خپل ځان په چا لوی نشي منلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی اکتشاف

دا سې يو شی ماته معلوم دی چې د هغه په واسطه هر خام پخېږي، هر کار ناکاره ورباندې کره کېږي، هر بېکاره شی ورباندې د کار، او د کار ورباندې مثل الاعلی ته رسېږي.

د آئينې غوندې بلک او د برق په شان نور او د قوس قزح غوندې رنګيني لري. دا سنګ پارس نه دی خو چې په تېږه يې ووهې سره زره کوي يې.

عجيب خواص لري ؛ د هر چا خوښ دی. او چې څوک يې لري هغه هم د خلکو خوښېږي. ولې هر چاته چې مخامخ شي ډار ترې کوي او ترې وېرېږي. هېڅوک ورته ځان نشي نېولی.

راډيوم هم نه دی. مګر په ندرت. کميابی، قيمتی او نورو مزاياوو کې د هغه په څېر دی. د ډېرو لږو خلکو پرې لاس برېږي. خو په دې سبب چې د اور بخری ترې الوزي ، چې څوک يې واخلي سوزي يې.

چې ښه او اصلي يې په لاس راشي نو هر چا ته يې سراسر فايده ده. بې له هغه چا چې لري يې. هغه څوک يې اخېستی شي چې له ځانه پرې نور ګران وي. او په هغه ملکونو کې دي چې هلته ټولنه په فرد رجحان لري.

نوم يې درته وښيم ؟ انتقاد. ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوندانه دري خوا

## علم ، شعر ، سياست

علم: اکتشاف ! شعر :احساس او سياست: کول دي.
عالم فکر کوي. شاعر خبري کوي او سياست عملا کار کوي.
عالم ګوري. شاعر خاندي او ژاړي. او سياست دان لوبي کوي.
عالم قوانين ، شاعر ملل، او سياست دان ډلې جوړوي.
عالم تخم پيدا کوي، شاعر يې کري او خړوبوي، او سياست دانې رېبي او حاصل يې اخلي.
زندګي يوه سرسبزه او ښېرازه ونه ده. علم يې بېخ، شعر يې تنه او سياست يې مېوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګلان تړلول

باغوان تازه تازه او ښکلي ګلان راتړول او کوډې يې جوړولې.
ګلساز کاغذونه پرېکول او ګلنمايي يې کوله.

ده، هغه ته وويل: دا مه کوه.

هغه ويل، ولې ؟

- ځکه چې دا ګناه ده.
- په څه ؟
- په دې چې که ګناه نه وای، نو هر چا به کولای.

ګلچين

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قافله

پاڅئ صبا دی.  وګورئ ستر ګه جګه راغلي ده. هلئ، نور خلک تول ولاړل.  (د قافلې مېر دغه پورته غږونه وکړل.)

پدې کې...

يو وويل: اوه، څومره ښه هوا لګېږي.

بل وويل: نن اسمان څه ښه شين دی.

دريم وويل: ستوري داسې ښکاري لکه په شنه چمن کې د پېلغو تولنه.

څلورم وويل: د صبا ستر ګه تر ټولو ښايسته ده.

پنځم وويل: خاندي خو څه نه وايي.

شپږم وويل: دا ليلی ده چې د قبيلې سره واښه.

اووم وويل: رشتيا وايي ، پاڅېږئ، سپېده چاود دی او رڼا خپره شوه.

ټولو وويل: بسم الله. (او پاڅېدل )

په دې منځ کې چا وويل:  څه کوئ دومره د وخته.

بل وويل: تر اوسه لا تور تم دی.

دريم ورو سر راپورته کړ ويل يې: بابا څه شور مو جوړ کړی دی؛ مونږ مو له خوبه وابستو؛ ټوله شپه لا پاته ده. چېرته ځئ، لېوني ياست ، کرار څملئ.

او سر يې کېښود .

دا خبرې چا وانهورېدلې او که با سنده يې وګڼلې، خو خلک روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

څوک ګړند روان وو او څوک غړنده. څوک سپاره وو او څوک پلی. څوک سپین ږیری وو او څوک ځوان. څوک واړه وو او څوک ښځې. څوک مخکې وو ، او څوک وروسته. څوک غلي وو ، او څوک ګړېدل. چا ذکرونه کول او چا دعا ګانې. چا پګړۍ په سر کړې وې او چا خولۍ. چا اشعار ويل او چا ترانې. چا شپېلۍ وهله او چار داريال. چا ويل غلي شئ او غلي ځئ. چا نصيحت کاوه او چا قهر. چا ويل دا ليار لنډه ده ، چا ويل هغه ښه ده. چا ويل دا بې خطره ده چا ويل دغه.

د قافلې مير په مخکې وو ، ده به غږ کاوه چې راځئ، مه وېرېږئ .

خلک روان وو او نه درېدل.

په دې منځ کې يو ، يو داسې هم وو چې د تګ خيال يې نه درلود او نور يې هم غوښتل چې پاته شي.

د دوی په دې باب کې خبري هم زده وې، او چلونه هم. څوک به يې ډارلو ،او څوک به يې له پښو را اچول.

د دوی سره هتېۍ وې، دا به يې د خلکو پښو ته ور اچولې. د چا به پام نه وو ، کالی به يې ترې حمله، او د تخرګ لاندې کړ . يا به يې په بډه وو اهه. کوم خوار غريب به چې وروسته او يوازې وميند نو تېر ا ېستلو به يې هم او لوټاوه به يې هم. ما دا خلک ونه پېژندل او نه مې سم صحيح کړل. د دوی قوارې مې هم په ځای رانه وستې ، ځکه چې دوی په خپل رنګ ځانونه نه ښودل. نه مې د دوی لباس په نښه کړ ، ځکه په هره جامه کې وو. هو ، دومره وه چې ژويلي خبري، رښا ته نه راوتل، خلک لمسول او خطا ايستل، بې کاره مزد غوښتل او استفاده کول، کله کله سترګي برندول؛ د دوی علامې وې.

په آخره کې ما واورېدل چې يوه بل ته ويل: ګوره بيدار شه که دا خلک مو راستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

نکرل ، موږ په سپېره ډاګ يو ازې پاته کېږي.
صبا په يوه ډله کې ما دا خواب وو ايه او تعبير مې غوښت:

يوه هوښيار راته وويل: کاروان او رهزنان.
يو شاعر راته وويل: تلاش حق او شياطين.
يو عالم راته وويل: ملي قافله او مرتجعين.

جلال آباد ۱۱ د عقبر ۱۳۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو هوښيار ماشوم

ادې جانې ولې ژاړې.
هان، ادې جانې ولې ژاړې ؟
بابا مې درسره بيا جنګ کړی دی ؟
وې وهلې، هان ؟
نو ولې يې وهلې ؟
هان، ادې جانې، په څه شي يې ووهلې ؟
ادې جانې بابا مې نو ولې تا سره جنګ کوي ؟
هان، ادې جانې بيا دي. بيا دې په سبو کې مالګه ډېر اچولې وه ؟
خير دی ، ښه ادې جانې.
ته مه خپه کېږه. ودرېږه چې بابا مې راشي زه به يې هم ووهم.
ښه ادې جانې مه خپه کېږه.
ته وره مه ژاړه کنه.
ته مه خپه کېږه ! چې بابا مې راشي.
ښه، زه به ورته قار وکم ښه.
پرون يې وهلې وې؟
دا پېره مې چې بابا جنګ کوي. زه به هم ورسره جنګ وکم.
ښه ادې جانې.
ما چې رشيد وهي نو زه يې هم وهم.
چې بابا مې وهلې، ته يې هم وهه.
ادې جانې، بابا مې زورور دی، هان ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

ته يې نشې وهلی ؟
ته ښځه يې ؟
هغه زورور دی؟
څنګه زورور دی، هان ؟
بل څوک نو ولې نه وهي ؟
ادې جانې زورور خو حاکم دی کنه !
هغه څه وو ؟
هغه څه وو ، هغه حاکم چې راغلی وو .
هغه سړی يې چې ووهلو.
ودربږه ښه.
زه به ورته ووايم چې بابا مې هره ورځ تا وهي.
ادې جانې مه ژاړه، زه خپه کېږم. ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا مې ارمان شو

زه نه پوهېدم، خو ډېر ترورر او مبدل وم، نه پوهېږم چې زما زړه څه ورک کړي وو، او که پخپله دی له ما نه ورک شوی وو.

هغه وخت چې ما ولېدې، زما زړه په سینه کې په زوره ودرزېد او د خپل وجود اعلان یې راکړ، زه پوه شوم چې زما روح ستا په تلاس کې پرېشانه وو.

ته د وړوکو لوبو ته یوه خوا ناسته وې؛ د ماسپښین د لمر پل شو، سترګې ګلابي، مخ تناویزي کړی وو.

زه پوه نشوم چې هغه کوم نور وو چې زما سترګي یې وسوې، ما تا ته په زېر ونشو کتلای. زما جلب زما د زړه په لاس کې وو. ده پرې نښودم چې په خپله لاره په عادي رفتار تلای.

زه اریان یم چې ته څنګه پوه شې چې له هغه ځایه راولاړ شوې او زما د لارې سر دې ونېوی.

آه دا څومره لوی احسان وو.

تا ماته سم ونه کاته او نه دې وخندل. زه پښه نېولی تېر شو م.

خو دا مې ارمان شو: چې کاشکې زما زندګي د ګل صورت غوره کړي وای، ما دا ګل تا ته در تقدیم کړی وای، او تا زما له لاسه اخېستی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اورکی

شپه وه، تیاره او چوپه چوپیا وه.

د شپې په تیاره، دکائناتو په سکوت او پراخه فضا کې؛ د شنو فصلونو، د ګڼو ونو په منځ، او د ګلانو د بوټو په خوا کې یو یو بلک کېږي.

آیا دا د اور سپرغۍ ده چې باد یې وړي؟

که د ژوندانه پای ته رسېدلې ډېوه ده چې په ځلګیو ځلګیو وروستۍ دقیقې شمېري ؟

د ګل د بوټي د بلبل غږ شو: آه اورکیه په دې شپه ؟

اورکی: هو کوم وخت چې به رڼا کې د لار ورکوله له لاسه لیار تړلی وې: نو په خدایي نور شپه رڼول پکار دي.

- آخر چېرته ؟

د دې فصلونو، د دې ونو، او دښتونو، ډاګونو و هغه پلو ته.

او د هغه غرونو، سیندونو، دریابونو، او سمندرورونو پورې غاړه، کوم ځای ته چې لمر او سپوږمۍ په خندا خندا ورځي ؛ هلته.

اوه کوم ځای ته ؟

هغلته چې هلته فطري رڼا هېڅ حائل نه لري ، او هغه ځای ته چې هلته (لټون) آزاد دی ! !

کابل ۱۳۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوټۍ زندګي

ډېري شپې ورځې تېر شوې، موسمونه واوښتل راواوښتل. د سمندر د غاړي بادونو ورېځې د ځانه سره راوړې، وربځو د دغه ځای په حالت وژړل او اوښکې يې توېې کړې. دا اوښکې خوړونه شول، بيا سيندونه شول، او بيا ويالې شوې، وروسته د ګل په ښاخ کې وچلېدې.

او خدای زده څومره اسباب او علل سره يو ځای شول، او څومره شرائط وجود ته راغلل چې په دغو ټولو باندې د غوټۍ زندګي مرتبه شوه.

د سحر نرۍ شمال په دې غوټۍ ورو، ورو، د شفقت لاس تېرولو، د شپې پرخې وربانديې خپله در افشاني کوله، چې څو د شمال په ډېره دلاساينه غوټۍ خپل شين داوڼ له مخه لېري کړ.

د چمن طراوت، د مرغانو نغمو، د اسمان د شني فضا لا انتهايت د نمر زرينو پلوشو، د سپوږمۍ مرغوبيت، د ستورو مرموزو اشارو، او د کائناتو نظام ته يې وکاته، او په نېمه خوله يې وخندل.

چې څو بيا دې خوله خندا ته جوړوله، لمر د ماسپښين ځای ته راغلی وو، غوټۍ د ده خواته مخ واړاوه او سر يې ټيټ کړو.

کوم وخت چې د نمر پرېواته له پلوه د نمر د طلايي پلوشو سره د نسيم په لګېدو د غوټۍ نازکې پاڼې ورپېدې، نو دې په داسې آواز چې ايله د شاعر د زړه غوږونو اورېدی شو، ويل:

پاکي تا لره ده اې خالقه، اې د کائناتو صانعه! ستا عالم څومره ښايسته دی، څومره ګلالی دی، او څومره وسيع. مګر اې خاونده! زما د زندګي وار همدا وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

(پس له لږ سکوته) بادا ره، پاکې تا لره ده زه راضي يم چې ستا د بې انتها ملک يوه ډېره جزيي برخه په ما ښايسته شوه.

ستا د مخلوقاتو د سترګو طراوت وګرځېدم. بلبلان راباندې وچغېدل ، بوراګان راباندې والوتل. ډېره ثنا ده تا لره چې زه ګل يم او اغزی نه يم.

لمر د غروب په حال کې وو ، ګل، خپل زړه په خپلو مړاوو پاڼو کې راونغښت، او د خپل حيات په وروستيو لمحو کې يې يو وار بيا دا وويل: ډېره ثنا ده تا لره اې خاونده چې زه ګل پيدا شوی يم او اغزی نه شوم. ! او ورژېد. ! !

جلال آباد ۱۳۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نور هم صبر وکړم ؟

زه منتظر وم او تاته.

ما ساعتونه او شپې تېرې کړې او تا ته مې کاته. زما په زړه کې ډېرې خبرې وې،آرزوګانې وې او دردونه وو. تا خو ماته څه نه وو ويلي، مګر ما ډېر ساعتونه واېستل.

زه منتظر وم او تا ته.

زما او ستا په منځ کې هماغه پيمان موجود وو ، چې شونډو يې د اظهار منت په ځان نه وو منلی. هغه يو ګل وو چې لا نه وو غوړېدلی. هغه يو سحر وو چې لانه وو خندېدلی.
يو ارمان وو ، او سربسته.
زه ددغه ارمان دپاره،
منتظر وم او تاته.

لاروي راتلل او تېرېدل. هغوی به په ځېر ځېر ماته کاته، او تمسخر به يې کاوه. ما به له شرمه چاته نشو کتلی.
ډېر خلک راغلی او تېر شول. دقيقې او فرصتونه لکه د لاس مرغۍ چې والوزي ولاړل.
زما آرزو غم شوه، او د زړه په سر غوټه.
نبه ، لا نور هم صبر وکړم ؟
نبه، مګر..... (تر کله ) ! ! !

جلال آباد ١٣٢٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوښکو ارزاني

که غله او ارتزاقيات قيمه شي خو د فصل په راوتو رفع کېږي. که کالی او لباس قيمته شي نو بيا هم څه نه څه ګوزاره کېږي خلک وايي: بربنډ له لاري اوړي، وږی نه اوړي. که فيشني شيان قيمته شي نو قيمته دي شي کنه.

تجمل بېل شی دی او زندګي بېل شی. که اسعار قيمته شي نو د دولت په تصميم يې علاج ممکن دی چې غير ضروري او دويمه درجه شيونه له استعماله وغورځوي.

که دا ټول شيونه په يوه سويه ارزانه شي نو يو مملکت د پاره د رفاه او آسايش وسائل لاس ته راځي. اما اجتماعي سعادت او خوشبتي دغه وخت هم نه حاصلېږي. د ژوند سعادت او خوښي د ماديا تو په زياتوالي او ډېر والي دومره اړه نه لري لکه د ضمير په آزادي او د روح په خوشحالۍ پوري.

په ژوند کې خطرناک او مدهش حال دا دی چې اوښکې ارازنه شي؛ وېره ، دهشت، او درد موجود وي او دوا نه وي.

په طب کې د هر درد ، خوږ، پرهار او ټپ علاج شته. مګر نه د زړه درد ، او زخم.

د زړه د درد علاج پخپله د زړه درد دی، او بس. د اوښکو د ارزاني علاج، د پول او پيسو د ارازني، غوندي نه دی، چې د اقتصاد کوم ماهر يې علاج وکولی شي او نه د زراعت متخصصان په دې کار پوهېږي. بې دردي په يو قوم او جامعه کې داسې يو مرض دی چې په علاج يې فقط پيغمران پوه شوي دي.

اې خدايه، موږ نه هغه زړونه واخله چې د مظلوم او بې وزلي له سترګي څخه په عبث تويېدونکو مرغلرو نه خوږېږي او هغه لاس او پښې او ژبه مه راکوه چې بې لاسو او بې پښو ته صدمه رسوي او خلک ژړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کابل ۲۷ د جوزا ۱۳۳۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناکامي

د ژوندانه د ناکميو څخه مه مايوس کېږه.

هغه ژوند کامياب ژوند نه دی چې تل کامراني لري. هغه خوشحالي سړی نه خوشحالوي چې د درد او خوږ په بيه نه وي اخېستل شوي. د ورځې رڼايي د شپې له تيارې څخه ده.

د لېدو خوند د بېلتانه په غم کې او د ژوندانه فتحه د ژوند په ماتې کې ده.

هغه چې له خدايه ابدي راحت غواړي، هغه د يو داسې جنت آرزو لري چې هلته د لېدو لپاره سترګو پرانيتو او د خوړلو لپاره خولې ببرته کولو او د اورېدو لپاره غوږ ايښودو ته اړه نه وي. ترڅو چې ژوند، ژوند دی؛ نو په دې کې برکت له حرکت څخه دی. ځکه کامل سکون کټ مټ مرګ دی.

هغه چې وايي په دې دنيا کې بدې ولې شته، کمی ولې، او بنديزونه ولې ؟نو دی په حقيقت کې د نيکي د پرېمانۍ، او ازادۍ قدر نه پېژني، او د دې مرغلرو پوره قيمت ادا کول نه غواړي. هر څومره چې يوه خوشالي شانداره وي، هغومره هغه لياري هم سختې وي چې د هغې د حصول لپاره لنډيږي.

د ژوند ناکامي په حقيقت کې هغه کسان غواړي چې د کاميابي وړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پتې اوښکې

ستړګې دي پټې کړې ؟ بيا يې نه غړوې؟ خوابدی شوی يې ؟ د ادې او دادا غږ بيا نه کوې؟ مروره شوې يې؟ بيا نه پخلا کېږې؟ د خپل مور و پلار نه دي زړه بد شوی دی؟ زړه دي تور شوی دی ؟

ستړګې دي پټې کړې؟ بيا يې د سره نه غړوې ..... زبيدې ...... اورې.

تا خپل خوږې نيمګله نيمکله خبرې د ناز منډې رامنډې بس کړې؟ نور مازديګر د پلار مخې ته په منډه منډه نه راځې ؟ تا نوره د مور و پلار غېږ د مينې لپاره کافي، او د سترګو غړولو لپاره مناسب ونه ليده؟

ته پورته شوې چې دا دنيا له مينې څخه اغراضو لپاره ډېره مساعده ده ؟ ته ورسېدې چې زموږ په دې خړه دنيا کې هر څوک د ځان لپاره ژاړي ؟ او چې اوبو تر ستوني راشي نو اولاد هم تر پښو لاندې کوي.

او در څرګنده شوه چې زموږ په خړه دنيا کې خلک د اولادونو په سر عزت او دولت حاصلوي ؟ او د رذالتونو په ارتکاب سره د شرافت د ګټلو پسې ګرځې ؟

ښه نو يو ځل بيا سترګې وغړوه، د طلايي وېښتو ، سورککې شلېدلي کميس سره په منډه منډه راشه ، يو ځل وخانده ، او راته ووايه چې تا څنګه په څه کم دوه کاله عمر کې هغه اسرار کشف کړل او هغه حقايق دې وپېژندل چې پلار دې په ۵۲ کاله کې پرې نه دی پوه شوی ؟ ستا دومره زر دا يقين څنګه حاصل شو چې زموږ د دې خړې دنيا ټول حرکات، ټول افعال او ټول اوضاع غرضي، تصنعي او مطلبي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیالي دنیا

ته څنګه ژر پوه شوې چې دلته په خندا خوله ببرته کول په کائناتو پورې خندا کول دي ؟تا ته دا راز څرنګه فورا کشف شو چې مونږ ټول د ټیټو خواهشاتو غلامان یو ؟تا ته زموږ دا نفسي کیفیت څرنګه دستي در څرګند شو چې زموږ لویه هوښیاري دا ده چې د خپلې خېټې د کندو ډک ساتلو دپاره د خلکو په شرف، ناموس او حیات لوبې کوو؟ البته دا ده څرګنده شوه چې چېرته چې نر د ښځې قدر قیمت نه لري نو هلته به د ښځې څه قیمت وي ؟ته په دې پوه شوې چې په نیم قرن ژوندون کې د چا نارینتوب او ښځه توب نه معلومېږي نو هلته سترګې غړول څه فایده کوي ؟

ستا یقین راغلی وو چې چېرته چې ښځه تش د نفسي خواهشاتو آله او د یو بندي مریې په شان وي او د مال غوندې بازار ته عرضه کېږي، نو هلته د طفولیت نه سړیتوب ته تګ کول له سړیتوبه تېښته ده، نو ځکه دې د دې ځمکې د مخ نه د هغې خېټه بهتره وګڼله، سترګې دې پټې کړې او ترابده پورې.

زه پوهېږم چې ته په حقه یې، تا د خپل شاوخوا د بې مزې، بیمعنی، پوک، په غم لړلی پوچ ژوند څخه مرګ بهتر وګاڼه. لاړې ، او په حقیقت کې دې زموږ په نه تلو وخندل. ته په حقه یې ځکه چې ستا شکېدلی کمیس زموږ ټول قدرت څرګندوي. تا ډېر ښه وکړه چې د مرګ دومره اوږده لار دې چې پلار دې په نیم قرن کې طی نکړه تا په څه کم دوه کاله کې ووهله. ته د حیات د مراحلو په لنډولو کې له مونږ چالاکه وې. تا د برق په سرعت هغه لاره ووهله چې موږ ورباندې څښېږو . اخر ځای خو هماغه دی چې ته ورته مخکې ورغلې.

مګر دا مې ارمان دی چې تا ته د مرګ مدهش هیکل خپله توره مهیبه خوله وازه کړه او درنېږدې کېدو ، نو تا به ضرور شاو خوا ته کتلي وي، ته به ډارېدلې یې او ادې ادې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دادا به دې نارې کړي وي، لیکن په دغه نیمه شپه کې نه تا سره ادې وه، او نه دادا چې ته یې په غېږه کې نیولي وای، په تا یې ژړلې وای، او اوښکې یې تویي کړي وای، ډېر افسوس دی چې مور دې د شفاخانه په بله خونه کې له ځانه بېځانه پرته وه. او دادا دې دواورو دیخ باد په زغملو سره تر نیمې شپې په دروازه کې ناست وو . اما تا یوازې او د بېکسۍ په عالم کې ساه ورکړه او سترګې دې پټې کړې. ښه ده ستا دې په مخه ښه وي، ورځه هغه ځای ته چې هلته دا شیونه هېڅ نشته !

کابل – حوت ۱۳۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپلاني مرغۍ

سبا وو، لمر ایله د غره له څوکې څړیکه وهلې وه.

د باغ زېړي ونې د لمر په طلايي شغلو کې داسې ښکارېدې لکه ښکلي پيغله چې پس له مرګه د سرو په ګاڼو سينګار شي. د سباوون شمال د ونو پڼه په رکاب پاڼې رېږدولې، تا به ويل: تبجن ناروغ دی ساړه لړې اخېستی. د ونو له پاڼو داسې نرۍ غمجن غږ پورته کېدو لکه د کمزورۍ ناروغ زګيردی. د ونو په څانګو سپلاني مرغۍ ټوغی ټوغی جوړه جوړه ناستې وې. چوپه چوپيا وه د پاڼو له شرنګا، او د کوچانو د کډو د ټک له آوازو څخه پرته نور څه نه اورېدل کېدل. يوې مرغۍ د وزر له بڼکو سر راوا ېست وچغېده. لکه چې ويل يې: ساړه دی. بلې ويل: هو، خزان دی، اوس د کوچ وخت دی. څلورمې ويل: تازګي ولاړه او ګلان مړاوي شول.

دوی يوې بلې ته وکاته او په نرو نرو ښکلو اوازو يې د باغ زېړو ونو او مړاوونو ګلانو ته (د خدای ښه) وويل. او لاړې. دلته دوه مرغۍ پاتې شوې. هغوی وويل: دا زموږ جاله ده. دلته مو کور دی. دوی ويل: مونږ د سړو تودو له کبله خپله مېنه او کور نه شو پرېښودای. دوی خپلو بچو ته نصيحت کاوه چې زړونه ټېنګ کړئ، په ښه او بده کې خپله ځاله پرېښږدئ. دوی وويل: خزان تېرېدونکی دی او ژمی هم. پسرلی به راشي، ګلان به وغوړېږي. شنيلې به وټوکېږي او بيا به مرغۍ راپيدا شي. دوی وويل: خير دی سپلاني مرغۍ دي په پسرلي زموږ له باغه خوند اخلي، زموږ د باغ مېوې دي خوري خو باغ زموږ دی. په مونږ دا باغ او د دې باغوان ګران دی.

هو، دوی ته دا خزاني باغچه جنت وو، ځکه چې د سپلاني مرغۍ نه وې او د ځالي سره يې مينه وه، د سپلاني مرغيو پشان يې د بل د باغ ثنا خواني نه شوه کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

د بېوزلو او يتميانو غوندې له يخنۍ ربړېدلې خو ځاله يې پرېښوده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بندي توتی

دا نري او خواشيني اوازونه چې اوریدل کیږي، دا د څه شي دي؟آه، دا آوازونه د هغه توتي دي چې په پنجره کې بندي دی. وای. دا د توتي بچوړي کوم ځيګر ور له خپلې ځالې رابیل کړي دي ؟

آه، دا آوازونه څومره غمجن او دردناک دي ؟ دا وړوکی د توتي بچی د خپل مور و پلار او د خپلې ځالې په یاد څومره ژړوونکي غږونه باسي.

آه، ناله کوي او خپلې ځالي پسې ژاړي.

افسوس دی خلک په تېر کې زړونه نه لري چې د دغسې وړوکي او نازکه زړونه ازاروي ؟ خلک دا ولي کوي ؟ د خپلې خوشحالی د پاره ؟ خو د خلکو د غم خوړلو لپاره دي ځان زهيروي او ځان دي پرې خوشحالوي کنه.

تاسف دی د خلکو په بې ذوقی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ستورو دنيا

د ستورو په دنيا کې خدايزده چې هغه څه شی دی چې ما خپل ځانته راکاږي.

هغه څه شی دی چې هغه ته ګورم يو مضطرب اطمينان مې په زړه کې ځای نيسي ؟ زه وينم چې دغه ستورو کې څه داسې غلي او چوپ دی لکه د خيال ژوروالی، او څه داسې خړ او لري دی لکه د تېرو ورځو ياد .

څه رانه او ځلېدونکي دي لکه د پاک زړي او صاف باطني محبوبې سترګې. او څه داسې برېښې لکه د هغې مور د مينې ډکې سترګې چې ورک اولاد پسې چې ناري وهي او د اوښکو ډکې شي. ښه نو په دې آئينو کې د انسان د ژوند عکس ښکاري ؟ يا دا چې دا ډېوې زموږ په غم او ښادۍ باندې خپله رڼا غورزوي. او هره شپه په اشارتونو او سترګکونو موږ ته څه وايي ؟

که دا نه وای نو بيا د دې ستورو په دنيا کې نور څه دي چې ما خپلې خواته راکاږي.

چې ورته ګورم زما زړه کله غمجن شي او کله خوشحاله. زه پوهېږم چې زه يو مسافر يم، د سمې لارې نه اووښتی او که څه هم خلاص او پرانېتی يم، مګر د خپلو رنګا رنګ خواهشو په رسيو تړلی يم د دنيا په قسما قسم خوندو مين يم، لېکن د خپلو اکثرو قوتو څخه بې خبره، د هر شي طالب (غوښتونکی) يم لېکن د هغه د موندلو سره د خپلې آرزو نه بېزار زما ورځې د هوسايي او سکون نه خالي دي، او زما فضا د تخيل د الوتو لپاره تنګه او ناموزونه ده لېکن زما لپاره د خوشحالۍ يوازې يو سبب موجود دی: څه... ؟ هغه دا چې زما شپې تر اوسه په دې حيرت کې تېرېږي چې ګوندې د حسن په دې لوبوونو کې هغه رڼا چېرې پټه يا ښکاره موجوده وي چې زما ړوند او سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیالي دنیا

(قسمت ) برخه یې لټوي ؟او هغه عصمت به پکې چېري مونده شي چې زما په ګناه ککړ زړه یې پلټي ؟او هغه راز به پکې ظاهر یا مستور اېښی وي چې د هغه پسې زما زړه په تلوسه کې دی او ټوپونه وهي. ښه نو د ناکرارئ څخه ګوندې چېرته د پټېدو ځای نشته ؟او که رښتیا دا نه وي نو ،

د ستورو په دې دنیا کې نور څه دي چې ما خپل ځانته راکاږي ؟

زه په دې پوهېږم چې زما په ژوند کې تر ټولو ثابته جذبه د عشق جذبه ده او په مخلوق کې ربښتیني جلوه ، د حسن جلوه ده او زه د دې هم احساس کوم چې هر کله زه په دې لېري لېري رڼا ګانو نظر اچوم نو زما په جذباتو کې تلاطم پیدا کېږي ، او زما ژوندون وران ویجاړ ښکاري، په هغه وخت کې زما زړه پوهېږي چې ده د خپلو آرزو ګانو پسې خپل قیمتي وخت بایلودلی دی، او خپل بې بها فطرت یې د عبث شیانو په عوض کې خرخ کړی دی، یوه زمانه داسې تېره شوه چې ما مینه د غرض سره ملګري ومېندله. وفا مې د بې وفایي سره یو ځای ولېده، ضمیر مې د خپل نفس سره لاس و ګرېوان ولید ، زما د عمر خوږې ورځې داسې تېرې شوې، افسوس ! لېکن ډېر شکرونه دي چې یو مسرت تر اوسه ما دپاره باقي دی ، چې زما شپې اوس هم په هغو ښکلو قندیلو رڼا دي چې د هغو شغلو زما په غمجن زړه کې لویه آرزو بیدا کړیده، زه وپوهېدم چې د انسان د ژوندانه صحیح سکون د اضطراب سکون دی، زه پوه شوم چې آرزو د څه آسان شاني حصول لپاره نه ده، عشق د یو ارزان وصل لپاره نه دی، او زه ورسېدم چې رښتینی کشش هغه دی چې تل زړه خپلې خواته کاږي، رښتیني آرزو هغه ده چې تل د تکمیل په تلاش کې وي، او ربښتینی محبت هم هغه دی چې د محبت د مدعا لپاره پرله پسې جدوجهد وکړي. او دغه جدو جهد د ژوندانه مال وګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیلاب

اوه، دا څومره تياره ده، څومره توره وربخ ده، په دې ټکنده غرمه کې دومره تياره، ته به وايې چې د ترورږمۍ ماښام دی ! !

دا لمر خاته او لمر پرېوا ته له خوا توري توري غونډۍ غونډۍ وربځې ، اوه، څومره په سرعت حرکت کوي. رڼا هېڅ نشته. ! !

اوهو ، غرهار ، ډزهار ، سرې به وايې چې ګونديکوم لوی ښار بمبارد کېږي. اوه، برېښناګانې داسې ښکاري لکه د اور متروکې. يا لکه آتشي ښېښې چې په کوم ځای ورول کېږي.

سخت حال دی، بده ورځ ده اوضاع ډېره خرابه ده، د دې وربځې د شان سره باران، ږلۍ، تندر او سېلاب لازم برېښي.

آه، د سېلاب مخه، او دغه کلی، دا څوک دي. دا ولې داسې بېخبره دي. دلته هېڅوک خوزېدونکی نه ښکاري. آوازونه نه اورېدل کېږي. دا ولې ؟ د خدای لپاره دوی ويده دي او که مړه ! !

دغه سېلاب راځي، دغه يې مخه ده، ټول به يوسي، آه په دوی کې به ماشومان وي، ښځې به وي، ښکلې ښکلې نازنينان به وي، د ارماندونو او آرزو ګانو ډک زړونه به وي، ټول به يوسي، آه برباد به شي.

هلئ، وېښ يې کړئ، ورغږ کړئ چې څه چاره وکړي، دومره غلفت. دا غرمه او دا درووند خوب. ! آه، دا ټول ويده دي. ټول ويده دي ؟ !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

فرض کړو چې څومره غریږي، هغومره نه وریږي، توره وېرول کوي او سپینه ورول کوي، څومره چې وايي هغومره نه کېږي، مګر بیا هم په لوړو غرونو خو باران کېږي، واوري وریږي. او د دې نتیجه سېلاب وي، هر کله چې وي دا سېلاب به راشي او ټول به یوسي ! !

دا چې د سېلاب مخه چانېولې ده، سیندونه چا بند کړي، بل ځای هم نشته او نه د تېښتې لار چې څه وي هغه به وي. بې همتي ده.

سېلاب خو د کلکو ګټانو او تړو سره لګېږي مګر ډډه ترې کوي. د انسان عزم، همت او اراده د زمانې د سېلاب مخه لاهم ګرزوي، پاتې لا د باران او اسمان تل د همتناکو د ارادې په موافق حرکت کوي ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوندانه طلسم

بس، همدا وو ژوندون ؟زوړ سړی د ژوندانه په غاړه ناست. خپلو آرزوګانو ببړۍ يې تلونکې لېده، سوړ اوسېلی يې وايست، او دا خبره د ده زړه د عمق نه داسې راووته لکه په اوبه کې چې يو شی ډوب شي او د اوبو په سر يې ځو برېږې څرګندي شي. د ماښام وخت دی او دلته د ژوندانه ماښام دی.

په اسامان باندې د لړو ورځو سپوږمۍ خپله ښايستوکي رڼا خپره کړيده، مرغۍ په هله هله خپلو ځالو او د شپې ځايو ته ځان رسوي؛ لمر لوېدلی دی. دغه دی دا تنکۍ سپوږمۍ چې د تېرو لومړنيو غوړسکو باندې لړه شاني پازه غورځولو لپاره دنيا ته راغلې ده. پرې به ووځي او په هر شي به تور تم شي.

د زاړه په زړه کې هم د يو لطيف احساس خلک تر څه وخته وځلېد ، د ده د ښکلي ځمليتوب ورځې تېري دي، اوس به دا زوړ والی او د هغه احساس هم تېر شي، او د ده روح به د خپلې وروستۍ استوګنې د ځای خواته وزرونه خپاره کړي وابه لوزي. د ځانه سره يې وويې: اې ژوندونه. ته همدا وې ؟ده بيا سر وخوزاوه، ويې ته ټوکه يې او که نه .لېکن ځوانۍ خو اورمرو ټوکه ده.

دا يې وويل زوړ غلی شو ، نور څه يې د خولې نه وانورېدل شول هغه اوبو ته په ځېر شو چې د ببړۍ په ډډو لګېدې؛ د ده رباب ، د ده هغه د خوشحالۍ ملګری چې درست عمر هر سبا ماښام په ده د ارمانونو سره په يو غړ غړېدو د ده له لاسه ولوېد .

ببړۍ په تلو کې ده، زوړ خوار خفه او غمجن دی، لېکن ببړۍ والا خوشحال او په خندا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

دا صورتونه څوک دي ؟ زړه ولې خفه دی؟ ښه نو ، دی د دوی د جلا کېدو په خيال غړند دی ؟ دی غواړي چې که خدای وکړي زر تر زره د ده د سترګونه پټ شي او د دوی ياد هم د ده د پاتې ژوندانه څخه د غلط توري غوندې لېري شي. ځکه چې دا هغه زړه غاوونکي شيان دي چې د ځلمېتوب د نشې په ورځو کې هر وخت د ده د زړه نه چاپېره وو ؛ د ده په زړه يې پرده غوړولې وه، ده د ا ګمان کاوه چې زما سترګې د حقيقت تصوير وينې ، څه چې وينم هغه هماغسې دی هم. ده د دنيا په رنګونو کې خپل زړه رنګ کړو. او د دغه رنګ ور کولو څخه يې د ژوند په ښايست سره تعبير وکاوه؛ دنيا د خوشحاليو يوه سلسله جوړه کړه، لومړی د ښايست سبا خپل جعلي نور خپور کړ، بيا رڼا شوه نو د عشرت وربځ په فضا کې خپله چترۍ وغوړوله، وربځ ورکه شوه، بيا نو د مستۍ رنګ د سرې زرغونې په شان په اسمان خپل ټال واچوه؛ د ژوند ورځ په دغه ډول تېره شوه؛ اسمان شين شو چې وی لېده ماښام نېږدې دی، نو ورڅرګنده شوه چې دغه زړه غلوونکي شيونه په اصل کې د ځوانۍ تېر ابستني وې، چې وو يو څه او ښکارېدل بل څه. کله د زړه د مجلس رنګ و رونق په دوی سره وو ، اوس د دوی قلعي لېرې شول نو دوی خپل د دې مجلس نه مخ واړاوه طاقت، قوت، قدايي، عشرت خودي، آزادي، ترقي، ښايست، مينه، عدل، علم، باور د دې ټولو پټ ښکاره شول.

حيات زړه څه فرض کړی و ، او څه يې ومېند . ليکن د يو قوي روح ته د حقيقت په لېدو کله ضعف پيدا کېږي ؟ ژوندون ښېشکه يو طلسم دی چې ماتېږي، خو د يو زړور انسان لپاره ښکلی دی دا طلسم، او څنګه خوندور دی دا ماتېده.

خبرېده د هوښيار زړه لپاره لوی تسل دی او د حقيقي ژوند لپاره مرګ هډو څه مرګ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوندور خوب

مازدیگر لمر په غړه غړه دی، د انګړ په منځ کې، د ګلانو د کیاریو په غاړه وړوکی ماشوم په لوبو بوخت دی، په لمن کې خاوري اخلي له یوه ځایه یې بل ته وړي، او هلته یې غونډوي. مور د کاله په کار اخته ده، په ډېره بیړه لګیا ده، کالي کونډي سنبالوي؛ ځکه چې ماښام دی. او وخت ناوخته دی. د کار په منځ کې یې چې پام شي نو غږ کړي چې زړګیه څه کوې راځه ناوخته دی. هله ځار دي شم. ماشوم په خپله نیمکۍ او خوږه ژبه وو ایي: ډوډو پکه کم. مور: څه کوې ؟

ماشوم: ډوډو پکه کم؟ (یعني ډوډۍ پخوم ) مور د کاله به کارو بوخته او ماشوم په خپلو لوبو . وړې وړې مرغۍ چې په کیاریو کې یې ټوپونه وهل ، خوشحاله خوشحاله او جلتي جلتي ګرځېدې، یوه یوه والوته، او ټولې خپلو بچیو او ځالیو ته لاړې.

وخت تېرتېږي، لمر ولوېد له، له ښکې تیاره راپورته او د ځمکې په مخ راخوره شوه، د آسمان په شنه او نامحدوده فضا کې ځای په ځای ستوري راښکاره شول.

مور چې د کار د بېړي نه خلاصه شوه،له ځانه سره یې وویل: آه، ماښام دی، تېرغونۍ شوه، بچی مې هلته لوبې کوي. آه، زما هېر شویدی، ورغله څه ګوري. ماشوم د خاورو نه وړې وړې او پلنې پلنۍ ډوپکنۍ جوړې کړیدي. خړ پړ پروت دی، چې ستړی شویدی. به خاورو کې یې سر ایښی دی او د خوب د قاصدانو لاس ته یې ځان سپارلی دی.

د ماښام خړه تیاره کې مور د خپل ماشوم سرته ولاړه ده، زړه یې د یو عالم ترحم او رقت نه ډک دی، او چرت وړي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

هو ، د ژوندانه مثال همدا دی.

مونږ په خپل ژوند کې همدغسې په خاورو لوبي کووو په دغه لوبو اخته او سوچه د مرګ د روند خوب په مونږ خپل چپاو راوړي، او بل عالم ته مو بوزي. مګر آه څومره خوږې دي دا لوبي او څومره خوندور دی دا خوب چې په خپله خوښه او آزادي سره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په خلکو مين

زه دا نه وايم چې ما ته روپۍ، ښکلي او غټې چوکۍ راکړئ. دا شيونه د هر چا نه وي په کار، او زما هم ورسره شوق نشته، زه وايم: راځئ چې دا فکر وکړو چې موږ ولې خفه يو ؟ خلک ولې يو له بله ژاړي ؟ او آيا موږ دا نه شو کولی چې ژړېدونکي سترګې د رحم او عاطفې په دسمال پاکې کړو ؟ آيا دا نشو کولی چې خفه خلک وخندوو ؟

که دا ټول ممکن وي، نو موږ د مال، دولت، چوکۍ او دبدبې د زياتې اندازې لپاره هغه کوشش ولې وکړو چې عمومي خپګان يو تر بل زړه بداوی پيدا او زموږ د ضمير آزادي سلب کاندي.

ما سره دغسې ارزوګاني دي.

زه غواړم چې په دغسې شان تاسو سره وغږېږم. زه له تاسو نور څه نه غواړم، تاسو فقط زما خبري واورئ. زه غواړم چې ستاسو په جرګو کې تاسو سره کېنم پاڅم، ځکه زما تا سره کاره دی. هماغه څه چې په يوازې توب ماته راښکاره شوي دي، هغه ستاسو په مخکې کېږدم.

زما دا يقين دی چې ماته دا يقين بېځايه نه دی بيدا شوی.

راځئ، زما خبري واورئ، که ستاسو پکې فايده وي ويې منئ، که نه نو، په عقل او منطق يې رد کړئ.

دا دنيا له عشقه ده، او په عشق ودانه. هر څوک يو عشق لري. زما عشق له تاسو سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

دا خبره نااشنا مه ګڼئ.

باور وکړئ چې زه د ژړېدونکو سترګو سره ژاړم. کوم وخت چې زه د خوشالۍ منظر وويلنم خوشالېږم، او چې د عظمت مظاهر ګورم کله رابانديې رقت او کله ترهه غلبه کوي. زه پوهېږم چې په دې شين اسمان، هواره ځمکه، ګڼو ستورو، لويو غرونو، روانو سيندونو، حيرانوډاګونو، شنو فصلونو، حيواناتو او نباتاتو کې څومره د عبرت جلال او جمال منظر موجود دی.

دا موجودات ټول ګويا دي، ټول خبري کوي، تاسو وربانديې پوهېږئ، که نه ؟ راځئ چې زه تاسو ته د ژوندانه او زندګۍ له اسرارو څخه بحث وکړم، د عشق او ميني لوبه درو ښيم.

وګورئ پورته فضا څومره رنګينه، وسيعه او حيرانوونکې ده، راځئ، چې هلته ولاړ شو. راځئ چې د غره په سر وخېژو او لاندېني ښارونه وګورو. دا چې موږ پکې اخته يو، څومره وړې وړې او ناڅېزه خبري دي. د پنځلسمي سپوږمۍ نوی سر وهلی دی، هر څه د نسترن په ګلابو کې پټ دي، فضا خاموشه ده. راځئ چې ستورو ته وګورو، او خبرې ورسره وکړو، وګورئ دا دنيا څومره ښکلې او ښايسته ده، د دې دنيا نه مخکې او وروسته به لا څه وو، او وي به ؟

ګورئ لږ ځان وزګار کړئ او زما خبري واورئ.

تاسو ولې د ژوند حقيقت هېر کړی دی؟ ما در پرېږدئ چې درسره وغږېږم. که تاسو نشئ راتلی، زه به درشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ، زما خبرې واورئ، او فکر ورباندې وکړئ، زما د ټولو فکرونو حاصل تاسې ياست.

زه تاسو غواړم، ځکه چې تاسو زما قوم ياست. او زه په تاسو مين يم. کټ مټ هماغسې لکه مور چې په اولاد مينه وي. مهرباني وکړئ، تاسو زما خبري واورئ. او له ما هغه څه مه غواړئ چې زه له تاسو نه غواړم.

په يو لوی محفل کې يو نری سړی پاځېدو او دا تقرير يې په نرمه او رقت انګېزه لهجه واوراوه، حاضرينو ځېنو ژړل او ځېنو خندل، مګر ځېنو يو تر بله وکاته او ويې ويل: دروغ نه وايي په انسانانو کې دغه مقام شته او دا سړی شاعر دی.

کابل – جوزا ۱۳۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کوترې صوفيانه ژوند

کوتره خپلو بچو ته نقل کوي: کوم وخت چې زه د جهان له هر ښه بده بېخبره، د ورکوټوالي او صباوت په غفلت کې له دنيا او مافيها نه آزاده او د مورو پلار د سيورې لاندې د بېغمۍ په تخت ناسته وم، نو هغه وخت ما دا خبره اورېدلې وه په دنيا کې بايد د عمر تېرولو لپاره داسې لار وکتل شي چې بېخې بې خطره او هېچا ته پکې آزار نه وي او په کار دی چې سړی د محبت، لطف، مهربانۍ، همدردي او نرمي مجسمه وي ځکه چې په دنيا کې که خوږ شی دی خو مينه ده. جنګ جګړې عمر بې مزې او پيکه کوي، بد نيتي او فساد په طبيعت غالب کوي، نو د ژوند دا پر امنه فلسفه مې خوښه شوه، د ځان لپاره مې خړ کالي او د ياهو د ويلو لپاره مې د لوړو ونو څوکې خوښې کړې، نه مې په چا کار لرلی دی نه غرض، نه مې چا ته ضرر رسولی نه تکليف، نه مې د چرچڼړو په شان د چا شولې خوړلې، او نه د ميناګانو په دود پردي انګور او انځر، زه ومه خپله ځاله بچي او د خدای ياد.

اکثره وختونه مې چې نور څه نه دي مېندلي نو د خاورو په شمکو مې قناعت کړيدی، يا مې په تشو تلو کې کرواړي کړي، او د بلبلو په څېر مې د ګنګوټو؛ او د مرغيو په څېر مې د ملخانو ازار نه دی اخېستی.

نو په دې کې زما د مقابلې او مدافعې اسباب د نه استعمال په سبب بدلېده بدلېده اوس وګورئ، زما پخه مښوکه، سرې پښې لکه د خيالوټکو پېغلو، زما حالت بالکل اوښتی دی.

حوصله مې پسته شوي، او جرأت مې کم شوی دی، يوازې زه نه داسې حالت او د ټول قام دی نو ځکه پښنه دا ده چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

دښمنان مو په خپل کور، مېنه او وطن کې نه پرېږدي، هېڅ په هېڅ راباندې تعدی او ناروا کېږي. او داسې ناروا چې زه يې هېڅ نه شم زغملی. دښمنانو ړومبی زموږ مېنې او وطن ته ځان رانږدې کولو آخر يې زموږ په وطن د غاصبانه تصرف عزم وکړو، داڅوک دی ؟ دا شوده پښتي، چالاکي وړې سترګي میناګاني دي. د ډېرو کلو او مودو څخه چې هېڅ ته د هغې وخت او نېټه نده معلومه، چې زموږ ړومبني پلرونه پدې ښونو اېسار ونو او تړو کې اوسېدل، د څه مودې څخه میناګانو دغې پلو ته پښه را اوږده کړيده، زموږ په مېنه او قام چور او چپا وکوي، شرم، حيا، له خدايه وېره نشته.

نو زما اوس دا پوخ يقين راغلی دی چې په دنيا کې څوک په داسې صلح پسندي او داسې متصوفانه ژوند د اشرارو له لاسه نه شي اوسېدی، نو علاج دا دی چې که غواړئ په دنيا کې د خپل قام سره په خپله مېنه کې آزاد اوسئ نو منښوکو او نوکانو ته د فولاد پوښونه ورکئ، او دا د کوترو جامه د باز په جامه بدله کئ، زما تاسو ته وصيت دی او تاسو يې خپلو اولادونو او خپل قام ته ورسوئ.

کابل ۱۳۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګلاب ګل

په دنيا کې د نزاکت، خوشبويي او ښايست د پاره د ګلاب ګل د هر څه نه زيات مشهور دی ګلونه نور هم بې شماره دي، ولې کوم صفتونه چې په ګلاب کې دي هغه د بل يو ګل هم نه دي په نصيب شوي، لکه چې په هم دې وجه ګلاب د تمامو ګلونو ( بادشاه ) ګڼلی شي. د مشرق په شاعرانو او اديبانو کې خو به ډېر کم داسې وي چې هغه په خپلو شعرونو يا په تحريرونو کې د ګلاب ګل په هر لحاظ بهترين شی ګڼلی نه وي. يوازې په مشرق کې څه چې په مغربي ملکونو کې هم د ګلاب ګل ته امتيازي درجه حاصله ده او د شاعرۍ او د ادب دايرې نه بهر د يورپ يو عظيم الشان تاريخي جنګ هم د ګلاب د ګل سره وابسته دی. دا جنګ د ګلاب د ګل په جنګ مشهور دی. ځکه په دې جنګ کې به يوې ډلې د سپين ګلاب ګل او بلې ډلې به د سور ګلاب ګل د ډلې د نشان په طور استعمالوو.

ګلاب تقريباً د دنيا په اکثرو ملکونو کې پيدا کېږي ولې زيات په هندوستان، ايران، افغانستان منځني مشرق او د يورپه اکثرو ملکونو او ګڼو علاقو کې پيدا کېږي. په دنيا کې د ګلابو د ټولو نه لوی باغونه په بلغاريه کې دي وايي چې د بلغاريې ګلاب په دنيا کې خپل ثاني نه لري. د لېرې لېرې ملکونو خلک د بلغاريې د ګلابو د باغونو د لېدو لپاره بلغاريې ته ځي. او د ټولو دا خيال دی چې دومره اعلی ګلاب بل هېچېرته نشته.

نن ورځ د ګلابو بې شماره قسمونه راوتي دي. او په باغونو کې رنګارنګ ګلاب لېدل کېږي. ولې عام خيال دا دی چې په دنيا کې د ټولو نه اول، خدای پاک سپين ګلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيدا کړی و چې تر لېري لېري پوري يې ترې نه خوشبويي تله. ورو ورو چې زمانه تېرېده نو په خوشبويي کې يې کمی راتلو او مختلف رنګونو هم پکې پيدا شول.

نن ورځ سور ګلاب ډېر عام دی او د دې سور ګلاب په نسبت ډېر دلچسب روايت مشهور دي.

وايي چې څه وخت بي بي حوا يو سپين ګلاب ښکل کړو نو د ډېر شم او حيا نه د ګلاب په هر يو رګ کې سرخي راغله او د هغې ورځې نه د ګلاب رنګ سور شو، او سره ګلاب پيدا کېدل شروع شول.

دغه شان يو يوناني روايت دی چې يوه ورځ زهرې (وينس) په ايډ وينس پسې منډه وهله چې په پښه کې يې د سپين ګلاب اغزی مات شو، ګلاب د ډېر شرم او خجالت نه تک سور شو.

پارسي حکايت دا د ی چې يوه ورځ بلبله د ګلاب په ښايست او خوشبويي دومره مسته او بې خوده شوه چې به سينه کې يې د ګلاب اغزی ننوتل او وېني پرې راماتې شوې، دا د وينو څاڅکي چې په سپين ګلاب پرېوتل نو هغه سور شو او د دې بس سور ګلاب پيدا کېدل شروع شول. خير حقيقت هر څه چې وي خو نن ورځ سور ګلاب د سپين ګلاب نه ډېر عام دی او خلک يې زيات خوښوي.

د رنګ نه علاوه د خوشبويي په لحاظ د ګلابو دوه قسمونه دي:

يو سوچه او بل جوته. په خوشبويي کې د اصلي سوچه ګلاب برابر بل يو ګل هم نشي کولی. د دې ګلاب نه د دنيا بهترين عطريات، او عرق جوړېږي. د دې پاڼو او اوبه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو رنځونو کې د دوا په طور استعمالېږي او ډېر فايده مند ګڼلی کېږي. جوته ګلاب ښايسته او رنګيز خو ډېر دي ولې خوشبويي پکې ډېره معمولي وي.

د ګلاب ګل د ښايست معيار ګڼلی کېږي او د عيش او عشرت په سامان کې ورله امتيازي درجه ورکړې شوې ده، د هندوستان د مشهورې ملکې نور جهان خو ګلاب دومره خوښ وو چې يوه لحظه يې له ځانه نه جدا کولو د حمام په اوبو او د لمبلو په تالاوونو کې به د ګلاب ګلونه هر وخت پراته وو. او په هندوستان کې خو دا خبره ډېره عامه ده چې د ګلابو عطر د نورجهان ملکې ايجاد دی.

د يورپ لوی لوی بادشاهان هم د ګلاب د ګل ډېر شوقيان وو لکه چې يو رومي شهنشاه ګيلي نوس دا حکم کړی وو چې زما په بستره کې هره شپه دګلابو ګلونو غوړوئ، د ده په نسبت مشهوره ده چې يوه شپه دی د ګلابو د ګلونو په بستره ځملاستو او سحر راپاڅېدو نو په ملا کې يې درد وو، نوکرانو ترې تپوس وکړو چې صاحب څه وجه ده ؟ شهنشاه ورته وويل چې بېګا زما په بستره کې څه سخت غوندې څېز پروت وو. بستره راټوله شوه او معلومه شوه چې د ګلاب يوه غوټۍ په غلطۍ سره په بستره کې اچولې شوې وه. دا د پخوانو بادشاهانو د نزاکت حال وو.

په يونان کې به پخوا د هايمن نوي جشن په موقعه د هلکانو جنکو په سر د ګلاب د ګلونو تاج پسرول کېدل او شاعرانو، اديبانو او د قوم بهادرانو خلکو له به د ګلاب د ګلونو تاج په انعام کې ورکول کېدو. د دې نه زياته د قدر او عزت بله نښه نه وه.

دغه شان د يورپ عيسايي بادشاهانو کې چې به چا د عيسائيت اعلی ترين خدمات وکړل نو د ورم ستر پاپ به هغه ته د روم دلويي ګرجې د ګلابو يو مقدس بوټی لېږلو او دا به په مذهبي طور سره انتهايي اعزاز ګڼل کېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

ډک دي باغ د ګلونو ، يو تر بله ښه ښکاري
زه بلبل ګلاب ته ځم، ما ته نور څه نه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ای باغوانه

دا څنګه پراخ ښکلی او تازه باغ دی ؟

جګ فولادي غرونه، په لمنو کې يې د شودو په شان د سپينو صافو ، رڼو او خوږو اوبو ويالې لکه پېغلې چې د صحرا په سېل وتلې وي، د لوړو لوړو پولو څخه رادانګي. کږې وږې په مستۍ مستۍ درومي . او د ريديو ، غاټولو او ارغوانو په سرو او شنو چمنو کې ننوزي.

واه، څنګه ښه هوا لري.

په دې هوا کې زړه خوشحالېږي، طبيعت غوړېږي، او روح تازه کېږي. د جنت هوا او د جنت مېوې دلته دي. د پسرلي او تازګي کور دلې دی. له دې ځايه، نه ووځي، خو په نوره دنيا کې دوره کوي.

وګورئ، د دې باغ مرغان څنګه بې پروا ، څومره شوخ او آزاد دي.

رنګارنګ پيمخي مرغان په خپله خوښه، په شنو چمنو لوړو ونواو اوچتو غرونو کې بې قيده ګرزي ، سيل کوي، تفريح کوي او سېلونه او سېلونه الوزي.

د دوی په منځ کې د همدردۍ، خواخوږۍ، آزادۍ او مېني محبت ټول مظاهر په اصلي صورت سره موجود دي. د ظاهر داري، دوه رنګي، غولوني او سترګو ته د خاورو شيندلو اصول دلته نشته.

دا ځای د وحشي او مهذبي دنيا دواړه رقمه غلامي د داغ نه پاک او داسې سپين سپېڅلی دی لکه د پښتنولۍ دنيا .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خيالي دنيا

راځئ وګورئ ، دا بڼ، هغه بڼ ، دا چمن، هغه چمن. دا اوبه، هغه فواره. دا ډنډ ، هغه شرشره ، دا ګلان ، هغه کياري.

وګورئ: هغه نيالګی څنګه ښايسته نيالګی دی. راځئ چې ورشو ويې ګورو. اوه، دا خو لويه ونه ده. او هو ، دا څومره لوی ډډ لري او ښخونه يې څومره لري لري تللي دي. معلومېږي چې په اصل کې همدغه يوه ونه ده. ښخونه يې تللي، چېرته ورته بڼ او چېرته ورته د ګلانو غوړسکې ټوکېدلي دي.

راځئ چې وګورو چې د دې پاڼې ولې زېړې دي ؟ولې وده نه کوي ؟او ولې دغسې لکه چې ښخونه لري ښاخونه نه لري ؟

ښه، ورباندې د لمر رڼا او حرارت نه لګېږي او که چينجی پر لګېدلی دی.

دغه سړی څوک دی ؟ وينې دغه. دا ګوره چې تسکوره او تبر ورسره دی. دا - دا څه کوي ؟دا دا خو د ونې ښخ راسپړي. اوه، دا خو د تبر ګذارونه ورباندې ګوي !

اې سړيه ، دا څه کوې ؟مه ونه دې وابسته.

اوه، ته وايې چې ښخ کې يې چينجی دی دغه ترې وباسم. نه دغسې نده. تا خو ټوله ونه له ښخه وابسته. وا ..... د خدای لپاره ونه يې وابسته. دا سړی څه مطلب لري ؟مه، مه، وهه. د دې په وهلو ټول باغ زېږېږي. بس کړه، و نه وهې. مه خبردار. دا وېره شته چې دا مرغان دې ټونګه ټونګه کړي.. دا باغ بې خاونده ندی. دا ډېر غيرتي باغوان لري. او هر چاته ظاهر دی.

هلئ، ګوره، ونه يې وابسته. په انو بانو. او په خندا خندا .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

وا ، هغه بل يې په څانګو لګيا دی.

اف يو يې په ډډ لګيا شو .

اه، باغوان يې څه شو ؟

هغه دی له ورايه ګوري، خو پام يې نه دی.

وګورئ ، يو يې په مخه کې ولاړ دی، او په خبرو کړی يې دی. هلئ ورغبرګ کړئ...

اې باغوانه، د خدای لپاره ، ستا د باغ لويه ونه وهي.

هله ! !

کوه هله !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دنيا ويش

د آسمانونو پورته خواته د ځمکې د اوسېدونکو د پاره دا ، ندا ، راغله: اې د ځمکې خلکو ، دنيا زما مال دی خو تاسو ته يې پرېږدم پخپل منځ کې يې په وروری، برابره ووېشئ.

زوړ او ځوان، عالم او عامي ښهري او دهقان، ټولو رامنډې کړې او پرې را سره شول. دهقان د تخم کرلو د پاره د ځمکې يوه حصه رايله کړه، ښکاري لېنده په اوږه کېښوده د ځنګله لاره يې ونېوه، تاجر چې ګومره د لاسه کېده خپلې کېسې او هميانی يې د زرو او جواهرو نه ډکې کړې، پادشاهانو خپل حکم او نفوذ، باج او خراج په خلکو تحميل کړل دنيا په دغه شان تقسيم شوه او هر چا خپله برخه واخېسته.

يوازې شاعر بېچاره د دې لوټ نه محروم پاتې شو خدايزده له کومه ځايه په منډه راغی، ګورئ چې هر څه تالا شوي دي هېڅ نه دي پاتې، نو په ژړا فرياد يې وويل.

زه مو هېر شوی يم؟ سره د دې چې زه د هر چا نه زيات ستا د رحم او مهرباني مستحق يم. ندا: د وېش په وخت چېرته وېده وې؟

شاعر: زه تا سره وم، سترګې مې ستا په لور او غوږونه مې ستا ملکوتې آواز ته متوجه وو، زما په بايلودې او مفتون زړه رحم وکړئ، زه حيران او مبهوت ستا په حضور ولاړ يم هر څه مې هېر وو.

ندا: چاره څه؟ دنيا ووېشل شوه نور څه نشته که ما سره اوسې د آسمان دروازې تا ته ببرته دي ستا د ګرزېدو او حرکت د پاره هېڅ حدود سرحدونه منع نه دي په ځمکه کې څه کوې؟ ستا د روح د جولان لپاره د آسمانونه پورته فضا تياره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مېنه نه کوم

نه مينېږم ځکه چې مينتوب پرته له لتې او ناپوهۍ او بد مرغۍ څخه بله نتيجه نلري. نه په پسرلي کې ځان وژنم او نه په مني کې خپل زړه خپه کوم. که ګلان وغوړېږي او له کنډو نه سر راښکاره کړي او يا که مړاوي شي او په ځمکه ورژېږي، که لمر پورته راوخېژي، او يا په اورو کې پټ شي زما يې پرې څه؟

مين تل د آسمان ستاينه کوي او د هغه ښکليتوب په راز راز ژبو ستايي مګر زما زړه غواړي چې پر آسمان بريالی شم او په هغه لويه فضا کې آلوتنه وکړم او بيا له هغه ځايه دغه نړۍ ته وګورم. ولې به د مرغو په شان په يوه ګوښه کې کېنم او د ځان په وير به بوختېږم؟

غوره او ښه کار دا دی چې د فدا کاري، جنډه پورته کړم او د شخړي لپاره ځان چمتو کړم. ښايي چې زما د کوښښ په اثر کې د ظلم ونه له بېخه ووځي. ګوندې دغه اميد مې تر سره شي او کلکې ګنډي په خپلو ګوتو پرانېزم.

د ژوندون دوره لنډه ده او مرګ مې انتظاري باسي، نو بايد داسې يو کار ته ملا وتړم چې زما نوم تر ابده پوري لوړ او ژوند وساتي.

هو – چيه د چين نامتو شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماتما ګاندي افکار

د رښتاوو په عمل کې رښتنې تسکين دی. صداقت پخپله د صداقت انعام دی. له قيمتو څخه قيمته څېز خرخوونکي لپاره لکه څنګه چې د هغې نه بل قيمته څيز لاس ته نه راځي ، دغه شان، رښتيا ويونکی به د رښتيا نه زيات نور څه شی وغواړي ؟
رښتيا چې کوم ځای ته د لمر غوندې ګرمي ورکوي، هلته ژوندون هم ختم کوي. هغه انسان چې خپله ژبه په واک کې نشي ساتلی، هغه د حق مدعي نشي کېدی.

د رښتاوو نه وروسته په اصل کې عدم تشدد په دنيا کې تر ټولو لوی طاقت دی. هغه هېڅکله عبث نه ځي. تشدد تش د پاسه کامياب ښکاري. په توره او په خدای باندې اعتقاد لرل دوه متضاد شيونه دي.

که چېري عدم تشدد يا د محبت مذهب زموږ د ژوندانه مذهب نه وای نو په دې فاني دنيا کې زموږ ژوند مشکل کېدو. ژوند خو په مرګ باندې د ظاهري او پخواني فتح علامه ده.

که چېري د انسان او د حيوان په منځ کې کوم اساسي او لوی فرق شته، نو هغه دا دی چې انسان خپل فرض پېژندلی شي. د تېري او اوس زمانې ښه خلک د خپل توفيق او طاقت په اندازه د ژوند د دغه ډېر ضروري فرض روښانه مثالونه وو. په دې کې شک نشته چې په مونږ کې حيوانيت کله کله ظاهرېږي. مګر د دې نه دا نه ثابتېږي چې دا فريضه ( عدم تشدد ) غلطه ده. د دېنه تش دا ثابتېږي چې دې باندې عمل مشکل کار دی. د توري په ذريعه چې کوم شی حاصلېږي په توره بېرته هم اخېستل کېږي.

د ټاګور له افکارو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما نغمې

ما په ټول ژوند کې ستا د موندلو کوښښ په نغمو سره وکړ.

د غه نغمې وې چې زه يې در په در وګرځولم او د غه نغمې وې چې د دوی په مدد ما د خپلې دنيا په تلاش او احساس کې خپل څلور واړه خوا وموندلې.

هغه څه چې کله ما زده کړل هغه د غه نغمې وې چې دوی ماته دا راوښودل.

دوی پټې لياري راته ښېرته کړې. دوی د زړه په افق کې راته ډېر ستوري راوخېژول دوی ټوله ورځ ماته د مسرت او غم د رازونو په طرف لارښودنه کوله او ماښام يې د سفر د ختم په وخت کې زه دا د کوم محل در شايي ته راوستم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سفر تياری

ماته رخصت راکړی شوی دی. اې ورونو ماته په مخه ښه، ووايئ. زه تاسو ټولو ته سلام کوم او روانېږم.

دغه دی د دروازو ټولي کنجيګاني درکوم او د خپل مکان، د ټولو آينده دعوو نه ابرا کوم اوس زه له تاسې څخه تش د مهربانۍ د وروستنيو الفاظو د اورېدو په اميد يم.

مونږ او تاسې ډېره موده همسايه وو لېکن ماته همېشه د هغې نه زيات عوض راورسېد څومره چې ما ورکړل. اوس ورځ تمامه شوه او هغه ډيوه چې زما تياره ګوټ يې رڼا کاوه مړه شو. د طلب پيغام راغلی دی او اوس زه سفر ته تيار يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه پوښتنه

د دنیا په دې لوی جشن کې ما ته هم زېری رارسېدلی دی ځکه زه خوشحاله یم. زما ستړګو ولیدل. زما غوږونو واورېدل. په دې جشن کې ساز غږول ماته سپارل شوي دي هغه څه چې ما کولی شو ومې کړل.

زه اوس دا پوښتنه کوم چې تر اوسه ګوندې هغه وخت ندی راغلی چې زه دننه درشم، ستا صورت وګورم او خپل غلی سلام ستا په حضور کې تقدیم کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستۍ ورځي

زه پوهېږم هغه ورځ به راشي چې د دې دنيا نظاره ما لپاره تمامه شي، او ژوند به زما په سترګو، وروستنۍ پرده واچوي او غلی به رخصت شي. ليکن ستورى به هماغسې د شپې ځلېږي صبا به هغه شان لمر راخېژي او ساعتونه به د درياب د چپو غوندې د غم او ښادۍ حساب کوي او موجونه به وهي.

زه چې کوم وخت د خپلو لمحو د دغه انجام فکر کوم. نو د دغه لمحو پرده وشلېږي او زه د مرګ په رڼا کې ستا دنيا او د هغسې بې انتها خزانو ته ګورم، د هغې يو ډېر حقير څېز هم بېمثله او د هغې ډېر ذليل ژوند هم بې بها دى.

هغه شيونه چې د هغو بېکاره آرزو ما کوله او هغه شيونه چې ماته ورسېدل هغه ټول پرېږده. ماته يوازې په هغه حقيقي څېزونو قبضه راکړه چې هغه ما تل پرېښې او غورځولي مې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوندون مبارزه

هر کله چې محاربين ړومبى ځل د خپل ښتن له ځايه راغلل نو هغوى خپل قوت چېرته پټ کړى وو ؟ د هغوى زغري چېرته وې ؟ د هغوى وسلې کوم ځاى وې ؟

هغوى غريب او بېکسه ښکارېدل. کوم وخت چې د خپل بادار له ځايه راوو واته ، نو د غشو باران پرې وشو.

هر کله چې د خپل بادار کور ته بيا لاړل نو هغوى خپل قوت چېري پټ کړ ؟ هغوى توري وغورځولې، غشي او ليندۍ يې کېښودل ، صلح د هغو په وچولو کې ځلېده، هغوى د خپل ژوندانه مېوې تر شا پرېښودې څه وخت چې د خپل بادار ځاى ته بېرته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما دعا

اې زما خاونده ، زه له تا څخه دا غواړم چې زما له زړه څخه دا فلاس بنياد وباسه.

ماته دا قوت راکړه چې د ژوند د ترخو او خوږو برداشت آسانۍ سره وکړی شم.

ماته دا قوت راکړه چې بې وزي (بې وسي) له زړه ونه وباسم او خپل سر د کوم ګستاخ قوت په مخکې ټيټ نه کړم.

ماته دا قوت راکړه چې خپل ځان له روزمره رذايلو څخه پورته وساتم.

او ما ته دا قوت راکړه چې خپل قوت د مينې سره ستا رضا ته وسپارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه شرمیږم

د ملاقات ټاکلې ځای ته د تلو دپاره ما ټوله لیاره یوازې قطع کړه.

لیکن دا څوک دی چې په دې چوپې تیاره کې ما سره روان دی. زه ورنه د بچ کېدو دپاره لاره پرېږدم خو نه یې شم پرېښودای. هغه په خپل متکبرانه رفتار کې خاورې الوزوي، ځي.

هغه خپل جګ آواز زما د هر یو لفظ سره یو ځای کوي.

اې باداره، دا زما خپل مختصر وجود دی، دی خو نه شرمېږي، لیکن د ده سره ستا دربار ته په رسېدلو زه شرمېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه آرزو

هغه سندره چې د هغې د ويلو لپاره زه دلته راغلی وم، بې وينا پاته ده ما خپله ورځ د تارونو په لګولو او جوړولو تېره کړه.

مناسب وخت تر اوسه نه دی راغلی. الفاظ لا ښه موزون شوي نه دي تش د آرزو درد په زړه کې شته.

غوټۍ نه دي غوړېدلي، يوازې هوا ساړه اوسېلی کوي، نه ما د هغه صورت وکوت او نه مې د هغه آواز واورېد. ما تش د هغه د ورو قدمونو آواز د هغه سرک څخه اورېدلی دی چې زما د کاله په مخکې دی.

یوه لویه ورځ د فرش په غوړولو تېره شوه، او ډېوه تر دغه وخته ونه لګېده؛ زه دی کور ته نشم غوښتلی، زه د ده د وصال په آرزو ژوند کوم؛ لېکن دا ساعت تر اوسه نه دی راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بد بخت خوب

هغه راغی او زما په خوا کې کېناست لېکن زه وېښه نشوم. های، دا خوب څومره بد بخت وو. پیټ دې وي په ما.

هغه راغی، هغه وخت چې شپه تیاره او کراره وه، په لاس کې یې خپل رباب وو. د هغه په نغمو زما خوبونه معمور وو.

افسوس دی چې ولې زما ټولې شپې د غسې خوشې تېرېږي. آه، زه ولې د هغه چا د دېدار په تلوسه یم چې د هغه ساه زما په خوب لګېږي او مس کوي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ودې چم

پر زرغوني او پرسيوري پټې ځمکې باندې يوه بنفشه ټوکېدلې وه. د دې نارونه کاږه وو ، او سر يې ځړېده، ما ويل چې ګوندې له کتلو څخه ځان پټوي.

دا يو ډېر دمينې وړ ګل وو، رنګ يې ځلاند او د خوښي ډک وو. يو د ګل ښکلی چتر يې د پټېدلو لپاره درلود. اوس دا غوړشکې غوړشکې شګوفه ده.

په ډېر ښه رنګ ښکلې شوې وه. او دلته يې ښه ښه بويونه خپرول. تر پټو او ګڼو سيورو لاندې بڼ ته ولاړم.

چې دا ښکلی ګل وګورم. ده ماته د ودې چم راوښود. په خوړې تواضع سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوشحالي

د خوشحالۍ ځای په جګو او ښکلو قصرونو او په زرو باندې جوړ شوو بنګلو کې نه دی
.

خوشحالي په ډېرو شتو او دولتونو چاته په لاس نه ورځي.

خوشحالي د تمول د زرنګار جام نوم نه دی.

خوشحالي د هوسايي د باغ د کوم رنګين ګل نوم دی.

حقيقي خوشحالي د استغنا ، موړ سترګي او د خوشحال زړګي نوم دی او دا شی په دغو شيانو کې پټ او مضمر دی.

خوشحالي د خواهشاتو د محدود کېدلو نوم دی، خوشحالي د قناعت او د خپل زړه څخه د حرص د اېستلو نوم دی. زه په خپل حالت ځکه فخر کوم چې زه د حقيقي مسرت خاوند يم د جوش او هيجان څخه لاس واخله ځکه چې دا شيان اکثر د انسان لپاره مهلک ثابتېږي.

د روغو خلکو سره ناسته ولاړه کوئ، او دا ځکه چې روغتيا هم د رنځورتيا غوندې متعدي شی دی په ټولو جواهرو کې لعل ډېر قيمتي شی دی ليکن معدن چې تر څو پوري صيقل نشي د هغه حقيقي رنګ او جوهر نه معلومېږي بايد موږ خپلې خبرې اترې او کارونه هم صيقل کړو او د هغوی حقيقي رنګ او جوهر ښکاره کړو .

لکه څرنګه چې د علم درياب يو ناپاياو او نامحدوده درياب دی، هم دغه شان د علم د طلب لپاره د لايتناهي زيار او نامحدوده کوښښ په کار دی. د هر انسان لپاره دا خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيالي دنيا

لازمه ده چې خپل ځان د روحاني، مذهبي، جسماني او سلطاني قوانينو څخه خبر کړي
.

څه نه څه جسماني او دماغي زيار ايستل او کار کول ډېر ښه عادت دی. زيار او کوښښ د ژوندون معنی او حاصل دی. په دنيا کې لوی واړه ټول ژوي د خپل ژوندون د حفاظت او خپل خوراک د حاصلولو لپاره زيار باسي.

لاس تر زني کېناستلو او په بېکارۍ کې هېڅ ګټه او خير نشته، ګټه د زيار د باغ مېوه ده او د خپلو متو ګټه ډېره خوږه او ښه ده او هم دا د قدرت حکم او فيصله ده چې څه کار کوې د هغه کار مطابق نتيجه به درکول کېږي او دا پورته مضمون د دې متل توضيح دی چې څه کرې هغه به رېبې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرګ سره محبت

زه د هغه شپې نه خبر نه وم کوم وخت چې اول اول زه د دې زندګي د دروازې څخه تېر شوم.

هغه قوت څه شی وو چې زه يې په دې پراخه رازګاه کې داسې وغوړولم لکه په نېمه شپه کې چې په ځنګل کې کومه غوټۍ وغوړېږي.

صبا چې ما رڼا ته وکاته نو دستي مې محسوسه کړه چې زه په دې دنيا کې بېګانه نه يم.

او دا چې يو بې صورته او بې نومه، يو ناقابل الفهم شی زما د مور په جامه کې زه په خپلې غېږ کې واخېستم.

دغه شان د مرګ په حال کې هم، هغه نامعلوم شی هغه شان راڅرګند شي کله څرنګه چې همېشه ما هغه پېژندلی دی. او هر کله چې زه د دې ژوند سره مېنه لرم نو له دې څخه پوهېږم چې دغسې به د مرګ سره هم مېنه وکړم.

هر کله چې مور د خپل ښي تې نه اولاد جدا کوي نو هغه چېغې وهي، لېکن دستي يې کيڼ تي ته اچوي او غلی کوي يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپل لاس ځولانه

ای بندي ووايه: هغه څوک دی چې ته يې بندي کړی يې ؟

هغه زما بادار دی ، بندی وويل: زما خيال وو چې زه په دولت او قوت له هر چا څخه زياتېدی شم. ما په خزانه کې هغه دولت راجمع کړ چې خپل بادشاه ته مې ورکاوه هر کله چې خوب راباندې غالب شو ، نو زه د خپل بادار په بستر کې پرېوتم. څه وقت چې وېښ شوم ومې لېدل چې په خپله خزانه کې بندي يم.

ای بندي ماته ووايه: دا څوک وو چې دا نه ماتېدونکی زنځېر يې جوړ کړ.

بندي وويل: هغه زه يم چې دا زنځېر مې په ډېر احتياط تيار کړ ، زما دا فکر وو چې ناپړه قوت به ټوله دنيا مقيده کړي، او يوازې ما به په بې زواله آزادۍ کې پرېږدي نو په دغه لحاظ ما د شپې او ورځې په زيار سخت اور او د ظالمانه پلکونو وهلو په مدد دا زنځير تيار کړ، کوم وخت چې جوړ شو ، او کړۍ يې په ښه شان سره مضبوطې شوې، نو ومې لېدل چې هغه زنځير زه راګېر کړی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د آزادۍ جنت

هلته چې زړه نه وېرېږي، او سر نه ټيټوي.

هلته چې علم آزاد دی.

هلته چې دنيا د کوڅيو په تنګو دېوالونو نه ده ماته او ټوټې ټوټې نه ده شوي.

هلته چې الفاظ د رېښتينولۍ د عمق څخه راوځي.

هلته چې سعي په استقلال سره خپل وزرونه د تکميل لپاره خپروي.

هلته چې د عقل صافه چينه د بېکاره دودونو په وچ شګلن بيابان کې خپله لاره نه وره کوي.

هلته چې نفس د تل پراخېدونکي تخيل او عمل پسې ځي.

ای ښبتنه د آزادۍ په هغه جنت کې زما ملک بيدار کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبادت

دا نغمه او سرود، دا ورد او وظيفه پرېږده دروازه بنده کړه، د خانقاه په يوازي او تياره ګوټ کې ته د چا پرستش کوې هم سترګې وغړوه، ګوره چې ستا خدای تا ته مخ نه دی؟

دی هلته دی چې دهقان په بنجره ځمکه کې قلبه کوي، هلته چې مزدور لوی پېټی به شاه اخېستی وړي يې، دی په ګرمۍ او يخنۍ کې د هغوی سره دی.

د خپلو تخيلاتو نه راووځه، دغه ګلان او بخورات يو خوا کېږده، څه پروا لري که ستا جامې شلېدلي او خچني وي؟ هغه سره يو ځای شه، او د زيار او د زحمت د وچولي د خولو سره و هغه ته ودرېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښاغلي خادم چاپ شوي کتابونه:

1 - د کوچنيانو اخلاقي پالنه
2 - نوی ژوندون
3 - روهي ګلونه
4 - پښتونلي
5 - بايزيد روښان
6 - د شريف سرګذشت
7 - د مرغلرو امېل
8 - مکار الاخلاق (پښتو ترجمه)
9 - خيالي دنيا

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**